

دیوان جوشی

مصنفہ علی حیدر جوشی

دیوانِ جوشی

مصنّف

علی حیدر جوشی مقام اسماعیلہ تحصیل صوابی ضلع مردان

ناشران

اورنگ زیب قاسمی

زیب آرٹ پبلشرز محلہ جنگی پبینور سنا

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

قطعه

که عمل دِ وی پرے کرے قرآن ستا دے
زمکه څه کئی چه د اپورته آسمان ستا دے

تُورے د پرے دی خوزره د خالد غواړی
ته خالد بن ولید شه جهان ستا دے

دا "دیوان جوشی" کتاب د مینے یو ډک سمندر دے. دے سمندر کښ د هر چاد زړه خواهش پوره کیږی. دد ے کتاب مُصنف د ضلع مردان تحصیل صوابی کښ د کلی اسماعیله اُوسید ونکے دے. تعلیم ئے د خپل مُناسب سره پوره کړے دے. پښتون دے پښتو وائی. پښتو لیکی. دده تخلص جوشی صیب دے. شعرونه ئے جذباتی او غټ مثالُونه دی. هر مثال ئے د کانړی کوښه ده او د زړونو مقناطیس دے. سن نولس سوه شپاړس ۱۹۱۶ء کښ دده پیدا ئیش دے. د شباب په عمر کښ ډیر مست او حُسن فرست وو.

په موجوده دور کښې دَدَه ډېر رسُوخ او تعلقات شته. ولې
دَ زړهٔ مينه غريب سره ډېره لری. او غريب هم هغه چه
دَ غُلامئ جوند نه ستړے نه وهي. يو شعر کښې وائی. ے

څوک ډے مست نه وائی ما علی حيد الله
که لباس مې دے شاهي زړهٔ مې فقير دے

دَ دے شعر نه معلومېږی چه دَ جوشي صيب تخيُّل بادشاه
دے. ولے زړهٔ ئے فقير دے.

ماچه څه اُووے دا حقيقت دے. ډېره وخته پورے شاعری
ئے دَ خپلو ملګرو نه پټه ساتلے وه. دهغه وخت جوړ شعرونه
غزلے، يدلے. چاربيتے، نظمونه، نعتونه ځانے پځانے
آوړو. ان هغه شعرونه دده دَ شاګردانو پلاس ورغلی دی
خو لا مُصنف ئے دَ راغونډولو کوشش نۀ دے کړے. دغه
رومبی شعرونه دده اکثر مجازی او مذاقيه رنګ کښې وو. لکه
چه وائی. ے

شانه کړے ډے او ربل نه دے نوخه دے
زړهٔ زما ورپسے بيل نه دے نوخه دے
اننګی دے دواړه سرهٔ لکه دَ سيب دی
ماجوړ کړے ورنه چل نه دے نوخه دے

یو بل ځائے وائی ہے

محبت به دِے زیاتیږی زه دا زه
دَ رقیب زړهٔ به خوګیږی زه دا زه
چه وفا په تا کښی وی خود به لیدے شی
اوښ په بډه نهٔ پټیږی زه دا زه

دَ دِے شعرونو نه دا سے معلومیږی چه دده مجاز او حقیقت دواړو په زخم پټئ لګیدلی دی۔

دا هم هر چا ته معلومه ده چه د وطن دَ آزادئ په نوم ډیرے قربانئ کړے دی۔ دده دَ بلندے شاعرئ آواز دَ عوامو ډیر ځو غوږو ته رسیدلے دے۔ په دے زمانه کښی چه څو مرده شهرت الله تعالیٰ دده نصیب کړیدے۔ دَ یو الٰهی طاقت دے چه الله تعالیٰ ئے دچا نصیب کړی۔ اُمید لرو که چرے جوند ورسره وفا او کړه نونور به هم دَ خپلے پښتو ژبے خدمت اوکړی۔ دَ وطن عروج او بیدارئ ته به لکه دَ مولانا عبدُ القادر صاحب خپله زندګی وقف کړی۔

ان شاء الله۔ آخر کښی به دا او وایم چه دَ جوشی شعرونه بس بو خرا نه ده۔

مولوی عبد الله رئیس الشعراء سرحد لبید افاغنه
کشمیری ګیټ

د سوچه پښتون د پښتونولئ د روایاتو ترجماني په ساده او
مانجه شوي پښتو ژبه کښ د جوشي د جوش نه ډک دا دیوان زما
د نظر وړاندے دے . یو ګلدسته ده چه په کښ یو خوا د
حُسن وعشق پاکیزه جذبات دي او بل خوا د نصیحت رنګ رنګ
غوټي دي . یو دریاب دے چه روان دے یو بهیر دے چه
جاري دے . د سریتوب او انسانیت تقاضو نه دا شعرونه د
لوستونکی لمن راکاږي . د مثالونو او د متلونو په مرسته د
او بنیادانو د زړه ولولے راولړزوي . د معاشرے د ناسُور د پاره
ملهم په لاس طبیب دے . د پښتون دپاره په خپلو کړو د پښیمانئ
د احساس پیدا کولو کوشش کوي . او د تسلئ سامان ورله کوي
د جوشي علي حیدر نوم د پیژندګلو متازه نه دے . ته دا د
هغه ړومبے تصنیف دے خو یو خصوصیت په دے مجموعه کښ
د ټولو نه بړي سامان دے . هغه دا چه د هر پښتون بلکه د هر
انسان د زړه آواز دے . هر سړي ته په خپلو ناکړدو او د
پښیمانئ او سپے لارے ته د راتګ پیغام دے . او دا دا سے ساده
کوټلے پښتو ده چه معصوم بړے هم پوهیږي . الحمدلله نه ئے
د شعر په زور کښ نرق راغلے دے . نه ئے تخیّل ما میانه دے

زهٔ امید کوم چه پښتون قوم به د دې مجموعې قدر اوکړي او جوشي صاحب چه د شاعرانو په صف اول کښ کوم مقام موندلې دې. نو هغه به د دې جوګه اوګڼي. او دا حقيقت دې چه جوشي صيب د پښتنو د باغ يو ګل دې. او د دې ګل خوشبوئي هر طرفته تللې ده. او دا حقيقت نهٔ پټيږي.

عبد الغفران بيکس ډاکي وال، ايم. اے. بي. ايډ

دُ مصنف وينا

زماد علي حيدر جوشي پنځو کتابونو ته دَ قصو دي. قصې هم هغه چه کومې په تير شوي وخت کښ څه واقعات شوي دي او هغه د ښبيا وي. هاں بعضې قصې تاريخي واقعات وي. بعضې نه. ليکن د مشرانو نه پشت په پشت را روانې دي او کيږي. مصنف په صحيح او ريډ لو خبرو خپل هنر کمال ښکاره کړې دې. د ګلو هارونه دَ هرې يوې قصې نه په نظم کښ جوړ کړې دے. چه هغه به دَ جوشي صيب نه څکښ بل هيڅ نه وي کړې. ځکه چه دده فطرت داسې دې. چه دَ بل شاعر په کلام کښ څه جوړه ول جرم ګڼړي.

شاعر هغه دے چه هغه د خپل قلم او دماغ نه ملغلرے دُنیا ته پیش کړي. هغه ملغلرے به څه وي هغه به هم د خپلے ژبے ترقي وي او د قوم خدمت وي. علاوه دے ښحو کتابونو نه دهٔ نور کتابونه هم داخله اوکړه هغه کتابونه په رسمو رواج بانديے دوئ جوړ کړي دي. او څه ئے په شرک او بدعت جوړ کړي دي. اګر چه په دے ډیر مُلیان صاحبان مرور دي ولے دهٔ ناجائزونه دي کړي. نبي علیه السلام فرمائي مَنْ قَرا صَاحِبَ بِدْعَتہ نَقَدْ اَعَانَ عَلٰی هَدَمِ الْاِسْلَامِ. (ترجمه) چا چه عزت اوکه د بدعتي سړي نو امداد اوکه د اسلام په نړولو کښ.

دا سے الله تعالیٰ فرمائي چه ماله شریک مهٔ پیدا کوئ زهٔ بے پرواه بادشاه یم. که چرے سوچ اوکړے نو الله د څه نه پیدا کړے. دمور په خیټه کښ چا رزق در کوو. او بیا ژوند چا درکړو. او رزق څوک درکوي. یو الله وجني به دِ څوک الله. څوک دي چه تا به خلاص کړي. یا به ستا امداد اوکړي بے الله نه. عاشق یو مصرع کړیده معشوقے ته وائي ؎

هر ناپسنده به دے یو سم
یو یه یارے کښ دِ شریک نهٔ قبلومه

دغسې الله پاک فرمائي. هر ګناه به دے معاف کړم خو بیو شریک د الله مه ګوره. ابو جهل کا نو هم خدائے منلو. زکاة هم ورکوو. د ره پنځوس جونډئے هم کړي وو. خوشحال لدئے امداد یان کټلی وو. چه دا بُت د یاران ذمه وار دے. دا د اولاد دا به یم سفارش کوي. دا یل بُت د توخی د بادو د بریخ تې ذمه وار دے هم په دے عقیده ابو جهل تباه شه. او دوزخی شه. بیشک هر یو قبر زیارت دے او عبرت هم دے د و مره چه دې په زړه کښې دا راشي چه مرګ حق دے هر چا لره فنا شته. بے د الله نه.

ن وخت هم داسے راغلے دے چه بے عقلے بے علمه خلق وائي چه فلاني بابا د اُوړسه که بیړئ ډوبیږي او دے بچ شي نو بابا بچ که. او که ډوب شه نو خدائے ډوب که. که د زنانه ؤ ډوډئ تند ور کښی پر یوځی وائی هله بابا راورسه هسے سوچ پکار دے چه دغه بابا ددغې زنانه نو کړدے چه دا رسي به. ډوډئ به ورله د تند ور نه راخلي افسوس چه دا څومره خرابه عقیده ده. زه حیران یم چه په اوله زمانه کښې خو الله تعالیٰ د نفع نقصان رسوونکے وو. او س

بُوډ ما شه شو۔ چه هغه ټول صفاتِ او طاقتِ ئے بندیانو ته حواله که۔ دا دوے مُصنف په عقیدهٔ ده چه څه کوی دا یو الله کوی۔ انسان خو په وُنه کښ یو پانړه هم نشی پیدا کولے

قطعه

په ځوانئے کښ چه ټول نفس وچلے نشے

په پیرئ کښ ترے بیا ځان کښلے نشے

چه بُوتان د سینما په حورو بوبے

د جنت حورے صبا لیدلے نشے

د بُوت درے معنی دی څوک ورته بُوت وائی۔ څوک تصویر څوک فوټو۔ دا دجوشی صیب شعر دے۔

کرمو ے چه ابوجهل په بُتانو

لبن دوکان ته سر بنسکاره که د نایانو

دا سے کوم کوردے چه بُت یه پکښ نوی

د کاکا اود لالا اود خسپلوانو

الله تعالیٰ دِ اُمت رسول د شرک او د بدعت نه په امان کړی

آمین ثم آمین۔

حمد الف

که تمام عمر صفت کړم په زبان ستا
مګر نه رسمه زهٔ تر یو احسان ستا

یو احسان به دِ دَستر کو پوره نکړم
که دا سر و مال م واړه شي قربان ستا

تن وجود دِ څو مره ښکلے را الله راکړو
ډیر افسوس دے چه لا نهٔ منم فرمان ستا

کم نصیبه دَ دُنیا کار کښ مشغول یم
یو ذره م پروا نشي په آذان ستا

دا آواز راته پنځه وخته کیدے شي
راشه ځائے دَ خلاصي دا دے مسلمان ستا

بنه په غوږو باندے واورم ځان پرے کو نه کړم
زهٔ لا دِ ے کښ جنت غوارم مهربان ستا

دا وبه که سیاهي دَ سمندر شي
قلمونه شي ګُل واړه درختان ستا

انس جِن که دَ دُنیا واړه مُنشیان شي
بل کاغذ شي ورته دا زمکه آسمان ستا

ستا صفت به نوشته ور باندے نشی

کلمات دی بے مثاله بے پایان ستا

په ډیر یا فضل یم اُو کښنه عاصی یم

ربه غواړمه دقهر نه امان ستا

اوس لاندعلی حیدره پس دمرګه

دا خواږه اشعار به اُو منی جهان ستا

الفٌ

خدایه عدل په دُنیاکښ دَ عُمر رض را
دَ عثمان رض غونده خویُونه برابر را
صداقت م دصدیق اکبر رض نصیب کړے
شجاعت دَ مرتضیٰ علی حیدر رض را
ستا اختیار دے رب په کرانه درزنده
دَ غمونو په شپو ورځو کښ اختر را
دَ بلال رض په شانته مینه م نصیب کړے
په اسلام چه وی مئین هغه ځیګر را
دَ خالد غازی په رنګ لږم توزن کړے
زړه کښ عشق دَ نبی لاس کښ خنجر را
دَ اسلام په ننګ چه وُتی وو میدان ته
محبت دَ ا ماما نو سراسر را
چه شهید شه په میدان دَ کربلا کښ
شهادت په دا سے رنګ دَ بختور را
په حُرمت دَ هغے پاکو اصحابو
شفاعت راله دَ ښکلی پیغمبر را

خدایه زهٔ علی حیدر په عمل پرېږم
په خاطر دَ خپل وفا رآب کوثر دا

الف

جدا کړے دے زمانه دلبر چاچا
دالمسون دے ورته کړے سحر چاچا

ماخوحال دَ عاشقۍ هیچا نه دهٔ وه
چه یم اووے کړمه داغ پهٔ ځیګر چاچا

مسلمان ووم لا ترا اوسه کافر نهٔ ووم
اوس خوشحاله یم چه کړمه کافر چاچا

زهٔ ظاهر په خپلو بدو سلطانی یم
د رقیب په مخکښ کړمه وزر چاچا

آورم نهٔ به وی سپین کیږی په جنت کښ
دَ قیامت دَ حاله کړمه خبر چاچا

مشر زهٔ ..یم حق زمادے چه عاشق یم
دا بے عشقه په دُنیا کړهٔ ممبر چاچا

دا تپوس به یو ځل کیږی خفه مشے
وایه ویشتے دے مظلومه پسر چاچا

پس دَ مرګه به دے قبرته جر پیږی

چه کتلے دی دیوان دَ حمید ر چاچا
دَ بل شعر به کنړی او بۀ دَ کړوزے
که زما شعر ته او که نظر چاچا

ب

یو سړے شه عزیزانو کښې غریب
خپل خپلوان به وړ له نۀ راتله قریب
هیڅ نۀ وے چه دا ځوان زمونږه خپل دے
کټ کښې پروت وو هیڅ زده نۀ وو ترتیب
خۀ موده پس د همت په وجه ګل شه
کبر چا پیر ورته دیرے کړے عندلیب
دَ ناچار صحت دولت دے نور خۀ نۀ دی
دَ رنځور صحت موندے شی له طبیب
هُنر زده که پاسه ویښ شه محنت او که
عاقل نۀ کوی ګلے دَ خپل نصیب
ستاد ماغ دے خزانه علی حمید ره
ترے او باسے سنجیده اشعار عجیب

ب

چالیبدلے نۀ دے قد قامت دَ ربؒ

لیکن هر څه پاندے شته قدرت دَ ربؒ

په قیامت به د هغے سرې عزت وی

که چا اوکه په دُنیا عزت دَ ربؒ

دومره جمع کړه نیکی چه بیاج دِ نشی

په راستۀ کوه پاسه خدمت د ربؒ

ثوک جنت په غافلۀ موندلے نشی

چه ئے اونکړی ژک ژک صفت د ربؒ

نااُمیده که تهول عُمر عبادت کړی

پرے کتلے نشی یو نعمت دَ ربؒ

سوال په درکښ دالله نیم کړے مکره

بے طاقت نه مے شسته طاقت د ربؒ

دَ شداد په جنت اے علی حمید رح

غرمه کړه! اُوکته جنت دَ ربؒ

ب
عاشقانو ته یو مثال

مجنون کله شه د سفر په لوټے دریاب
ملایانو غسل ورکړ په آداب

کوم ساعت چه جنازه د مجنون اوشوه
خلقے ترے نه چاپیر شوے بے حساب

هر چا وے مجنون نه مخ دې را سرګند کړه
د لیلی په مینه شوے کباب کباب

تش هډونه دريورے غوښه اوبه شوه
دا باقی وجود دے مشه په عذاب

لنډه داده د مجنون قبرستیار شه
په لحد کښ شه بندی ګل د ګلاب

خلق ټول ترے نه په یرته را روان شه
دا بلیتون دے د هر چا د کور قصاب

څه چه کیږی هغه کیږی چه منظور شی
هیڅوک نه لری د خدائے په کار کښ تاب

د سمیلا علی حیدر وائی غوږ کیږدئ
ملائک د مجنون غواړی سوال جواب

غوږ به کیدی خبره ووسه پرے احباب
دالیدلے وُو یو نیکلی سرې خواب
چه په زړهٔ دَ عاشق شو وی هغه راتی
پروا نکړی دَ امیر او دَ نواب
ملائکو وُوے مجنونه رب دِ غوښتے
سم بیان راکړه چه نشے په عذاب
مجنون اُووے زما رب چه دالیلا ده
تصوّر کښ دَ لیلا یمه غرقاب
محبت م دَ لیلا په زړهٔ سبق وُو
ورسره م ټنګه وُو دَ عِشق رباب
بیا نکیر منکر دواړه په غضب شُو
کوم دِ دین دے رانه وایه په شتاب
بیا مجنون ورته ویل عِشق م دین دے
ما په دِے دین کښ لیدلے دے ثواب
ملائکو ورته وے څوا نه پښود شه
ستا قبله ده کوم طرف کوم دِ دے کتاب
مجنون وے قبله زما کور دَ لیلا دے
شینکے خال ئے دے امام وروځ محراب

ملائکې شو حیران په ببیرته لاړه
په قدرت ورته بیا اُووې پاک تواب
تاسو داُ ړئ ملائکو مجنون صادق دے
صادقانو سره نۀ کیږی حساب
عشق وو دغه شاعر علی حیدر ره
اوس خو هسے تکوی اور په شباب

ب

که ستا عُمر شی شپیتۀ کاله حساب
نیم ترے لوے کړه حصه دَ شپے دَ خواب
پاتے دیرش شو دَ بلوغ حصه ترے کټ کړه
بیا پنځلس پاتے کیږی دَ جواب
دا پنځلس کاله ستا د خوب لسیدهٔ دی
بو رجئے مۀ تره دَ پاسه دَ حساب
دَ حجاج بن یُوسف خو یو نۀ پریکړهٔ
دَ منصُور غونډه کښ اُوګټه خطاب
ستا په نیت پورے تړلی دی دا دواړه
که جنت کښے دَ ځان له که عذاب

واړه دا زمکه په هېچا نه مرېږي
څو سره خلق شه دلاندے د تراب
خپې یو هُره جائد اد علی حیدره
پس د مړکه د فقیر او د نواب

پ

زیات اُونۀ وهے د خپل مقدار نه توپ
ما توی خپے د اُوچت حِصار نه توپ
سرکه وڅځایه شی مات عاشقه خیر دے
تېبنګ شه مروهه د خپل اقرار نه توپ
شهید فخر کړی د سرو وینو د پاسه
غشی او خوری نروهی ګذار نه توپ
کور د زړهٔ لکه منصور په عشق نور که
خیر دے اُو مره مړ وهه د دار نه توپ
که دِ زړ کاله شی ژوند علی حیدره
وهلے نشے د اجل د وار نه توپ

○

پ ، دځوانئ دوران

دَ وصال په شپه کوي مستي دَ يار ګپ
دَ هجران په ورځ نت کښ خوږ روي دَ ديدار ګپ

په نشه کښ ډې سرې شو ښکاره هيرې مشه
څومره خوند که ادا ويښو وار په وار ګپ

چه کوم مخ کښ اثرات دَ پيغلې ناز وي
دَ زړو سره زړه (نه غواړي) په لار ګپ

عالم وائي چه دَ ژمي لويه شپه ده
د غه لويه شپه واړه کړي دَ دلدار ګپ

په يو زړه کښ کله دوه مينې ځائيګي
چا ويشتلې ده آشنا په سر دَ دار ګپ

دروازه به دَ درشلو سره لر کړم
که راځي طبيبه غواړې دَ بيمار ګپ

زه جوشي علي حميد رخو يوسف زې يم
يوسف زي نه غواړي چرې دَ بازار ګپ

ت

آول دا چه نشانه شی د قیامت،

لور به غوک نه کړی د مور په نصیحت

دویم دا چه پلار ځوی به ویزار شی

رور به رور سره په جنګ وی هر ساعت

دریم دا چه دوه دونړه ګټه به کیږی

د پخوا هسره به ئے نهٔ وی برکت

څلورم به عاشقان منافقان شی

معشوقو سره به نهٔ کړی صداقت

پنځم دا چه به رسمی مسلمانان وی

څوک به نه دروی په لار د شریعت

شپږم دا چه به حلال او حرام یو شی

د نیکئ بدئ به نهٔ وی تفاوت

اووم دا چه بدنیتی به کور په کور وی

نشانه به پاتې نه شی د غیرت

اتم دا چه به کمزوری سړی پړ وی

زوراور سړی به نهٔ وی ملامت

نهم دا چه به اختر بې خوشحالئ شی

خپل خپلوان به ورکوی لاس په عادت
لسم دا علی حیدر ره خدائے به هیرشی
مخلوقات به شی منونکی د دولت

ت

په ځوانئ پسے به اوکړے ارمان هر وخت
چه سپکیږے د پیرئ په دوران هر وخت
ناچاری به دے په داسے قسم سپک کړی
چه خپل ځوئے به دے نسی کړیوان هر وخت
چه هنر دے وی په لاس پیسه په جیب کښ
خپل پردی به دے ستی په زبان هر وخت
لوئے نعمت دے لاس او خپے او سترګے دواړه
ته شاکر او سه په دے احسان هر وخت
دا دے هر څه جوړه ونکے یو الله دے
څو کیدا ارشد د ایمان او د ځان هر وخت
یو ته نه ئے تمامی جهان تر رسی
غوریدلے دے د خدائے دسترخوان هر وخت
بخیلان پرے نه دی پوئے علی حیدر ره
چه بے خیره مال تر وائی قربان هر وخت

ت

دَ بخیل نه طمع مکړه دَ خیرات

دے کنجوس په ژوند انه باندے میرات

دا سے جسم همیشه دَ بل خوراک وی

چه حصه نهٔ وی پکښ دَ نیکۍ ذات

دا تر مړکه خوبه هر سړے ژوندے وی

سړے هغه دے چه سړیشی وی حیات

ان کړه شمع که ته او سوزے نو خیر دے

ظالم نشے دَ الله په مخلوقات

دَ کمزوری مخ وهل څهٔ توره نهٔ ده

په دُنیا دَ صبر نشته خوا بهٔ زیات

خیال دَ بل دَ زړهٔ ساتهٔ چه څوک دوس وی

زړهٔ کعبه هم دا هیرۍ دَ عرفات

دَ جوشی علی حمید رشعرونه غشی

په کواره لګوی وخت سره ابیات

ت

دَ یو بل نه مره خواشو یاران پت پت
ځکه راغي په کلونو خزان پت پت

هر یو کار په اتفاق باندې سر کیږي
بدنیتي کړه دَ بړکو رونه ویران پت پت

کوم سړې چه په موسم دَ کړ غافل شي
کوږي په وخت دَ دَ مندونو ارمان پت پت

ورسته عقل که ره مېنه دَ چا راتللې
هیچ په ولې سرواهه دَ خفګان پت پت

هر یو بد چه سړې او کړي پرستومان شي
خوشحالیږي پرې بد بخته انسان پت پت

دولت خوږ شه دَ سمیلا علي حیدره
دَ برو پرېخودو پرې دین او ایمان پت پت

ټ

لکه باغ چه د بهار خزان که لوټ

دا سے یار زما د زړهٔ دوکان که لوټ

د هر قسم تصوّر سودا پکښ وه

په لسون د غیر غماز جانان که لوټ

سرنګون په مزکه پروت سیرے ګریوان یم

د ځوانئ موسم په ما ارمان کے لوټ

دیوانه په یونګاه د حُسن دا شوم

محُبت م د هُنر سامان که لوټ

په کِشتو چه طارق او ربل که د پاسه

پس له هغے دهٔ بل میدان که لوټ

د ثمر طمع کوم د شنه هے اُونے

کور د زړهٔ م په بجیل انسان که لوټ

خدایه ما علی حیدر ته عفوه اوکړه

دا جهان خو راله نفس شیطان که لوټ

ث

هیشه دَخوشی باغ وی غل وارث
دَ سپرلی دَ گلو وی بُلبل وارث

چه پتنګ کله په مینه کښ ساه ورکړی
بے له شمع نړئ نړوی خپل وارث

دَ دولت معشوقه تل وی کوزے سترګے
پس له مرګه ئے بیا نه وی بل وارث

دغه مرګ دے چه ځوانی خُسرئے تیرشی
شی آخر ئے ځکنے چُغل وارث

بے وفا یار خو دانه دَجوارئ ده
ځان له ګوری په کهنته کښ سل وارث

وفادار اشنا مونده دَ انذر ګل دے
بختور به وی دَ دغه ګُل وارث

دغه ګُل شه ستا نصیب علی حیدره
موزی مشه دَ خائسته اوربل وارث

ث

په هر ځائے که کوے خیر دے آشنا بحث
یوغم زسره به نکړے زما بحث

زړهٔ کعبه دے خو پیر قدرئے پوئے نشوے
نره وی ئے ستا خندا او جدا بحث

لیونی وائی زهٔرا ستوری تره مه
دانا نه کوی هیچرے خطا بحث

دَ غیاز خو جدایئ سره مطلب وی
دغه وجه ده چه نکړی رښتیا بحث

مُردګان دَ مقبرو ورپورے خاندی
کله اسکړی په دُنیا دَ دنیا بحث

شرافت ئے په منځ نیم علیحیدره
په غیبت مکوه چرے دَ چا بحث

ج

چه کوؤم تا دَ خوګ زړګی علاج
دغه شیۀ څه کمه نۀ وه دَ معراج

دَ شرابو په نشه کښې دِ خیر راکه
دا احسان دے شه دَ عُمراند راج

یو اختر نۀ دے دا دوه اختره یوشی
دیار شونډه وسره شونډے دَ محتاج

ابوجهل درے پنځوس ځجُونه اوکړه
څوک تراوسه ورته نۀ وائی الحاج

بے ریا مؤمن په لږ څه جنت مومی
ریاکار به آخر وارہ شی تاراج

زۀ جوشی علی حیدر په مِینه مست یم
مستانه نۀ لوی کار په تختو تاج

○

ج مینه او ګله

زما ژوند کښې شوک را مشه ستا په جنج
ګنې زیات به مې شي لا د زړګي رنج

ستا د سترګو په کتو نشه نشه شوم
زړه مې بائیله ستا د مینې په شطرنج

بیګانه په تپوس راغله ته را نغلې
ګله درې ورځې نیته کړې ګله پنج

زړه مې اوچوي چه د ځان سره سینه کړې
ما نه شئ دے ستا د سور منګي ګړونج

انتظار د مینې قتل سره لګی
څکه رنګ مې په مثال شه د نارنج

پس د هغې به کامیاب علي حمید رشي
که نصیب ئې شي دا ستا د حسن ګنج

چ

په دُنیاکه خوار یے ځان د شر نه بچ
ځان ساته د بیوفا دلبر نه بچ

د جور یے په شان وینه د بنده څکي
ځان ساته د رشوتي افسر نه بچ

د مظلوم د زړه انار تیره خنجر دے
ځان ساته له دِے تیره خنجر نه بچ

ګټ کنډرا وجیب وهل ئې هُنر دے
ځان ساته له دے ګنده هُنر نه بچ

چه عزت دِ اخلي د ړے په زور مبري
ځان ساته د بیوقوفه خر نه بچ

دا فِتنه ده اے جوشي علي حیدره
ځان ساته د زن زمین او زر نه بچ

ح

په راتلو دِ زړونه واړه شو مجروح
ستا عاشق په دوجهان دے فتوح

محبت دے ستا بوځی عرشِ عظیم ته
بچ کوے دَ طوفانونو منځ کښ نوح

داسے څوک دی چه پر تا به عاشق نوی
څوک چه نوی هغه او گنړه بے روح

محبتّه ستا دُ ښکلی نوم نه زار شم
ستا خبرے دی همه واړه ممدوح

ستا دَ مینے ډک دریاب تر څه کوزیږم
په روښی ځل م په ژبه وی سبوح

کائنات شی را تر واړه مخکښ مخکښ
پر سانغ م زړهٔ عاشق دے دَ ذیروح

مرګ خوشته علی حیدر ته داسے همره
چه سینه دِ شی بردمه په قُروح

ح

په دربار دے یمه ناست علی الصباح
ستا د مدینه آرام گاه ده د ارواح

د مجاز عاشقان اوشره د دے نه
د رند و مخکښ بے قدره وی مصباح

عماز شرلتهوؤ بنده اوشو چه خبر شو
لائے دواړه کړو ښکاره په کل نواح

که د عوج هبری عمروی نو خلاص شی (عوج بن عنق
جال کښ گیر د عشق نه مومی فلاح

مال م نه وو دغه وخت کښ پسر پړووم
ستا په نوم چه م کوله افتتاح

د عاشق د معشوقے اقرار چه اوشی
په مذهب د عشق شی دغه نکاح

.ناست په تخت بانده بادشاه علی حیدر رض
ژوند تر نن شی رسید لے د سیاح

خ

ماچه اولیده داستا سحر زیبا مخ
داسے نه به وی دُ نیا کښ دَ بل چا مخ

اسویلی م درلیږل بنۀ ده چه راغلے
انتظار م وو دیدن ته دَ صفا مخ

لږ ساعت دے دَ وصال په خوند خبر کړم
بیا دے واړه وُو زمانه په خندا مخ

مریدل په مینه نشته لا اَو ترشم
چه ښکاره دے راته نشی ترے بیا مخ

ق - ر - الف - نون م معشوقه ده
غیر عبارته یادَوُمه دَ لیلا مخ

دَ سمیلا علی حیدر روائی قسم دے
چه دَ سر نه راته خور دے دَ آشنا مخ

د ورځ ځ

بخته نشوے لا نزاو سه پورے ویځ
هسے اوس ته دِ نیولے یم په سیځ
ګټ کښ پروت یم د ورځے خاپیرک یم
شپه م لا شی دم ختلے لکه سریځ
سر م سپین شه د وصال په طمع طمع
نه م زخل شه ملګرے نه مریخ
په نشه د عاشقۍ چه شوک عادت شی
هر نعمت پرے بے د عشقه لګی تریځ
په منت دِ کرم رضا بیا دے خفه کړی
خدائے مرض په غماز را وله د ریځ

میڼے ستا علی حیدر زړے زړے که
لا وفا به کوے ته په کوم تاریځ

اورنگ زیب قاسمی

ښ

دَ هجرا دَ تُف لعنت په ګفتار هیڅ
که ګډېږي په دے شرم دَ خوار هیڅ

دَ فقیر میلُو دَ لختے په مذهب وي
پروا نۀ لري غلام په وقار هیڅ

اُوس ایمان دَ تهتے ګوتے سرله راغے
دَ دوه جبي تش دَ خولے په اقرار هیڅ

دَ کیلے په ګذار یوا صیل پوهیږي
تش دَ ربړ دَ لوګي په ګذار هیڅ

ریا کار که عبادت اوکړي سل کاله
په دا هسے نما تش دَ غفار هیڅ

همسا دِ یرے دي کر ته چرے موسٰی شے
بے خزانه نه وي خوند دَ بهار هیڅ

شعر کړه دَ وجود روح علی حیدر ره
پکار نۀ دي بے مطلبه اشعار هیڅ

○

ځ

شمعې! دا دې پروانه شوه دَسُځلن ورځ
په رقیب نه دې نیته کړه دَ کُفتن ورځ

سپین بشرم دَ خزان سپیرو تور که
لکه راشي په سرې دَ ځنکدن ورځ

ما ذیکر مېئن جوړه جوړه روان شي
په ما عُمر کښ رانغله دَ دیدن ورځ

اُوس دې خاوړې پَسر نولمَ رقیبه
دماله تبره نشوه په سپین ورځ

دَ یار مخ کښ م تور خال حجرا سود دے
ښکلول ئې په ما فرض شو په نن ورځ

جنت جهاز کړه تخیلؔ علی حسیدره
په اغیارو توره شپه کړه دَ وطن ورځ

د

چاچه واغسته په جوند دَ محبت خوند
داسے خوږ به هر کز نه وی دَ جنت خوند

که دا ټوله دُنیا ستا باغِ ارم شی
بے له یاره به وی څه دَدے عشرت خوند

دَ دُنیا په حرص هیڅوک نه مړیګی
راشه واخله اے بنده دَ آخرت خوند

بلبلان درته نعرے وهی راویخ شه
په دریاب دِ لاهو نکړی دَ غفلت خوند

ځان بوراکړه چه دَ ګل په سوکونا ستئے
څو به کورے شمکی کښ دَ شربت خوند

ښه اخلاق به دِ دُنیا کښ سرفراز کړی
په دے بد عمل روکیږی دَ عزت خوند

چه کوم سرکښ نه وی بُوس علی حیدره
ستا وینا به ورکوی په هر ساعت خوند

د

بے له خدایه دَ چا مه غواړه امداد
دا خبره م ترمرګه لره یاد
یو الله دے چه دَ خیر او شر مالك دے
هم رازق دَ هر شاه دے په میعاد
راس پسر دَ غریب را کاګه عادل شه
اشنا مشے دَ فرعون او دَ شداد
دوزخی دے چه څوک دوه مین جدا کړی
شته کتاب کښ دَ نبی دَ خولے ارشاد
که زوندون دَ غلامئی شی هزار کاله
یوه ورځ عمر ترے غوره دے آزاد
دَ چا شر چه حجاج بن یوسف شی
دَ سعید توره به ئے خونه کړی برباد
مرګ خوشته علی حیدر دا سے مدمره
چه څوا ونکړے دَ نفس سره جهاد

د

مُفت مې زړۀ درکړے وو نه چه خرید
تۀ په دومره قربانۍ نکړے تائید

قسم اوخورے د رقیب بیا ئے مات کړے
بے انصافه نشوے ټینګ په خپل وعید

زخمونه دے چه زړۀ پرے چپه خوله شم
ډیر زخمونه لرم زړۀ باندے شدید

چه په غشو مې مدام د سترګو وُلے
خفه نۀ یم که په یو ځل شم شهید

پښتون نۀ پریږدی میدان چه ساه پکښ وی
شاګردان دی د خالد بن ولید

عاشقۍ کښ چه جوش علی حیدر مری
کلمه ورته شروع کړه د توحید

ډ

که ژوندون دِ چرے اوکړ شی یا لنډه

چه بیلتون شته ماتوی یې دے مرکنډه

دَ پیریُ زندګی مه غواړه دُ نیا کښ

دَ ډیر عُمرسره ډیر شته دے غوبمنډه

زیان اُوکته دَ ځوانئے په وخت کښ کیږی

په پیرئے کښ به شے هر چا یاندے ډنډه

دا سے وخت دے کږوی خوره که نړوی مه خوره

تپوس نه کړی څوک دَ اُوړی دَ بربنډه

دَ مالدار خو مدار شته علی حَیدره

خائے کوز کړه دَ غریب دَ سر نه پنډه

د

بیګاه شپه کښې م لیدلے دے خواب کله وده
رانه حکه شو حساب او کتاب کله وده
دولت چغه کړه راځئ زه ستا سورب یم
زغلیدل پسے فقیر او نواب کله وده
زه ولاړ په تماشه وم د بد بختو
ورلا هو شو د حرص په دریاب کله وده
دے دریاب کښې یو بازار د عمل جوړ وو
خرڅیده پکښې ثواب او عذاب کله وده
دغه تول متکبر بنی آدم وو
چه خوراک وو شراب او کباب کله وده
نر او ښځے یو ځائے ناستو بے حجابه
غګیده ئے منځ کښې چنګ او رباب کله وده
چه راویخ علی حیدر شه دائے اُوے
خدانه مکړے رانه سوال جواب کله وده

ذ

خوند کړی کرم په علمانو خور مجاذ
شی کتلے په یو غلی ضرور مجاذ
چه خالد بن ولید میدان ته راغے
په دشمن باندے شه تنور مجاذ
په درومبئ ورځے هلاک شو پنځه زره
شه په خون د مخالفو سور مجاذ
څوک چه سر کړی د الله په نامه وقف
بیا لا څه کوی نزدے او دور مجاذ
دولت څه شے دے دسر په بدله کښ
چه په دار شه او وکاته منصور مجاذ
والی دا علی حیدر عشق کښ مړ شه
چه نصیب دِ شی د زلفو کور مجاذ

ذ

هرہ چارہ دَ دُنیا شی پہ کاغذ

غم بنادی او قید رها شی پہ کاغذ

دَ دُنیا دَ هر طرف نقشہ پکښ دہ

کرا نہ لاڑ وی خو ویرپا شی پہ کاغذ

دَ پیدا نہ ترفنا پورے یادا شت وی

نوشتہ چہ څہ وینا شی پہ کاغذ

هم پردہ دہ هم ربیارا و هم تعویذ دے

نا اشنا بندہ آشنا شی پہ کاغذ

دَ غربت پہ وجہ غائب علیؔ حیدرہ

رشتہ ورکہ راپیدا شی پہ کاغذ

ر

قدر ډیر کوه ﺩ پاک نبي سرور

نشته بل ددهٔ نه غوره پیغمبر

خکته مزکه هم ددهٔ په مخ پیدا کړه

پاس آسمان او ستارے شمس القمر

دے په حقه اولین هم آخرین دے

د اصفت ئے کړی پخپله پاک اکبر

نو ډیرا خله په ادب په ده یره مینه

گستاخئ ابی لهب که درپه در

چه توهین کړی د نبي علیه السّلام ځوک

زندګی به ئان له کړی خاورے پسر

تر ابده به وی پروت په جهنم کښ

همیشه به پرے عذاب وی مقرر

ما چه تبت ید او ولید په قرآن کښ

تعجب یوړ مه زهٔ علی حیدر

ر

یوه ورځ په جرګه جمع شو کُفار
لاړه دُوی ابوطالب له په تلوار
ورته وائی محمّد وُراره دِ وَجُنو
په دُنیا ئے مونږه دیر کړو ناقرار
همیشه زمونږ خدایانو ته سپک کوری
عالم ټول ئے واړه وو په خپله لار
داسے وائی چه دَ یو خدائے تابعدار شئ
دَ بتانو هیڅوک مشئ تابعدار
څو به دا خیرے کړی انجام ګوره
چه وُراره به دِ شی نن صبا په دار
دا بیان ابوطالب چه واؤریدلو
راطلب ئے کړو نبی خیر الابرار
ورته وائی کافران دِ درنګ له وجنی
ستا دَ مرګ یناجوړیږی په بار بار
سود مِ نه رائحی وراره دَ چاد لاسه
چه وینته دِ شی دَ پاک بدن آزار

اے وراره ماته دَ تهول جهانه خوږے
په مِنّت درنه کوُمه دا گفتار

تبلیغونه ځائے پځائے دَ اسلام پرېږده
هسے نه شوک دِ په کتهو کړی سنگسار

پاک رسول وے خوږه تره هرځ دِ آوُرم
دَ اسلام باره کښ وایمه په بار بار

په چړو که م شوک تن ټیکے ټیکے کړی
زهٔ به تهول عُمر دَ خدائے یم وفادار

که په ښی لاس کښ سپوږمئ کافران را کړی
په بل لاس کښ دولتونه بے شمار

خپل اُمت ماته دَ مور پلار ده خوږ دے
خدائے م مکړه له دے خپل امت ویزار

که ستا خویش نه یم نو تره وطن به پرېږدم
خبر دے زهٔ به درنه ځم په بل دیار

پاک رسول شاد ر په خپلو اُوکو کېښود
روانیږی د تهام جهان سردار

په سپین مخ ئے ملغرے اُوښکے راغلے
زور چه راشی محبت شی تار په تار

زه یتیم یم سورپلار یم دواړه نشته

ته یم تره وے هم یم مورورے هم یم پلار
ته چه ما منع کوے د حق د لارے

نور یم څوک دی چه یم شی د غاړے هار
پاک رسولؐ چه ورته داخیره اوکړه

په جړا شه تره ئے اوکه دا اقرار
ورته وائی اے وُراره هیڅ ته مه څه

سر و مال به دواړه کړم له تا نثار
اُوس جاری تبلیغ کوه هر څه چه کیږی

ستا په ځائے به یمه هر څه ته بیدار
زړه یم چوی که یم د سترګو ننا کیږے

اے وُراره ستا د اخلاقو شمه زار
دا منم چه ته په حقه پیغمبر ئے

مګر زه یم ازلی په نصیب خوار
که ایمان په تا راوړم ورستو شرمیږم

ټول همزولی به یم خاندی وار په وار
په دے وجه کلمه ویلے نه شم

پټ په زړه کښ دے لریم مینه بسیار

پیغمبرؐ ته چه دا خبره اوکړه
کفار واړه شو له دے نه خبردار

صبر نۀ دی اُوس به بله موقعؐ گوری
تنکوی دَ خوږ اسلام دَ باغ مالیار

مری به هر څوک په نیته علی حیدره
بے نیتے نه وجنی هیڅوک کردګار

روانده حال بیا نوه دَ پاک سرور
کُل جهان ئے په رنړا دے منوّر

په ماتحه باندے ولاړ دَ الله دوست وو
راغے دے دا ابوجهل په نظر

کافران دا اسلام څومره دشمنان دی
څوک به څه اوکړی په دوئ باندے باور

پاک رسول چه په سجده الله ته پروت
ابوجهل ورله ته په څه هنر

یو مضبوط کانړے ئے پورته که دَ زړکے
خلقه وُلی پرے نبیؐ خیرالبشر

دے کبن راغے جبرائیل دَ حق دَ لوری
په لید وئے ابوجهل شه اُوتر

دغه شکل هیبت ناک ورته معلوم شو

څکه څکه ترې خطا شه روګو در

هغه کانړې ئې د لاسه خکته پریوت

ورسره شه د خپل ځان د مرګ خطر

شونډې وچې دارخطا په تېښته لاړو

وردا خل شو د کفارو په لښکر

هغوئ اولید ابوجهل رنګ ئې زیړو

حال خپل ورته بیان که سراسر

ورته وائ دې زماد لاسه نه مری

ورسره چه څه جادو دې که منتر

اوس ئې بل تجویز کوم ملګرو واوړئ

ورلیږو د چا په لاس سیمو زر

دا یې خیال دې چه غریب دې مال به واخلی

بې له دې به دهوکه نشی دلاور

دوعقبه نوم قاصد ورا ولیږلو

دا قاصد هم تړه کیده د پیغمبر

ورته وائ محمده دولت واخله

د توحید مسئله پریږده شه خبر

که مقصد دِ سرداری یا بادشاهي وی
غواړه هر څه ته تیار یو برابر

یا بیمارئ په مزغوکښ دِ نقصان وی
چه څه غور درله اوکړو د کوسر

جواب راکړه چه په څه به خوشحالیږی
چه هغه حکم به ځان کړو مقرر

پاک حضرت وئیل قاصده جواب دادے
نه پکار م دی یا غونه د ثمر

نه پکار م بادشاهي ده نه ئے غواړم
تا بعد از کورم د الله اکبر

پاک رسول چه ورله دغه جواب ورکه
عقبه پا سیده روان شه زوړند سر

کافران ورته ولاړ په انتظار وو
ده شروع که ورته ذکر د بهتر

ورته وائی چه په حقه پیغمبر دے
نه مجنون دے نه پرے شویدے اثر

کافران شو ډیر غصه عقبه ته وائی
ته هم کیر شوے په دام د جادوگر

دا قاصد نے پیغورونو باندے تنذي که

هریو وو د ابوجهل نه بتر

چه په چا د الله خپل فضل او نشی

هغه سنګه په یو خدائے باندے باور

حرص طمع ئے د هر چاکړی محتاجه

نا علاجه هسے ګرځی در په در

قرآن دائی چه عمل د چا خراب شی

هغه شان ته وربخاره شی ممبر

عجیبه دُنیا ده یا علی حیدر ره

څوک جنت پکښ ګټی او څوک سقر

اورنگ زیب قاسمی

ر

یو سړے په ما ښام ناستو ما زیګر
مونځ او کړه خوانه او کړه پړے باور
نبي طرف ته ئے سلام او کړ خولو
ناګهان او لیده شکل د خر
مونځ ئے مات شه بیا ئے بل طرف ته مخ کړ
نا صافي ئے یو هلک شه په نظر
د هلک په لید وئے نیت شوه طلاقه
جواب را که پده ښځه او شو اثر
دو باره بیا د اودس په نیت روان شه
د برش روژے شوے پرے د پاسه مقرر
یو ه ورځ یکښې پرے داد رے کارونه اوشول
یو هے ئم کړه چه دغه خیر شه کړ ضرر
چه عالم نه وي تر څو علی حسین ره
د شاعر په مطلب نه رسي بقر

ر

څوک چې اوخوري په زړګي د عشق ګذار
هغه شي د تمامې عمر بیمار

طبیبان به ئې د کوم زخم علاج کړي
چې په زړه ئې وي زخمونه صد هزار

صادقان اوړي نمبر په عاشقۍ کښ
منافق اولیده چاپه سر د دار

زر چې اولې شي په اور هله کالې شي
بې کړاوه لطف نه وي د دیدار

لازم قیر سره نه لیدي ځلمي بیم
مرګه دومره چې زر او نکړې تلوار

د مجاز په رسۍ خیجم حقیقت له
ښکلوم ځکه دده زمانې یار

په خلوت د تنه پټ علي حمید رشه
تیر وي عمر د خلقو نه کنار

6

لر

هغه خلق هغه مینه محبّت لار

د بوتانو په سجده دِ شرافت لار

اے غریبه خدائ اسره کړه چه کامیاب شے

د بنده په اسره تا نه خپل همت لاړ

هر سړے دِ کیلا مند د خپل عمل شي

مشکل ځکه پرے راځي چه [illegible] لار

بد نیتي شوه په هر کور کښې کور جدا شو

په نفاق سره د هر څه برکت لاړ

اوس خو هسے نوم د دین او دا سلام دے

چا چه سر پرے دا ډکو وهغه طاقت لاړ

تبدیلي او شوه جوشي علي حیدر ره

کوم ساعت چه دولت راغے نو غیرت لاړ

لہ

ترمغرب پہ ترمشرقہ دا خبر لاړ
چہ سردار دَ دواړو کونو پہ سفر لاړ

بیا زولی حسین شو ترے نہ پاتی
دا آواز دَ فاطمے دعرشہ سر لاړ

غرض دا چہ پاک رسولؐ کفن دفن شو
لکہ برق غورزنہ دَ سترگو دَ نظر لاړ

اصحاب وارہ اللہ تہ لاس پنام شو
مونږ هم واخلہ چہ نبی خیر البشر لاړ

مدینہ کښی کور پہ کور کیدل ویرونہ
غصہ ناک ورلہ یو ورځ حضرت عمرؓ لاړ

دائے او وے اصحابو تہ چہ واورے
پیغمبر یم رازلہ بیا دَ پاک اکبر لاړ

زما څنګښی کہ چا او وے چہ وفات شو
پوهے دِ شی چہ پہ تیرہ تورمے سر لاړ

بیا دیرے نہ چا غږ کولے نہ شہ
داسے خلق دَ دنیا نہ مسافر لاړ

بیوه ورځ بہ دا آواز پہ غوږ وو اورے
چہ لحد تہ ارمانی علی حیدر لاړ

ر

تهٔ چه بل سره سمیلے په تش بونړ
دهغهٔ تندے بهٔ هم وی دریته رونړ

چرے تیرے غونډے مهٔ ولړ دُ خانه
چه رونړے کښ د طاقت نهٔ وی دلونړ

چه په کوم تالی کښ خورے قدرئے دیرکه
دشا دو پشان پرے پوزه نکرے سونړ

تش دکیږے آشنایان که د هزارشی
واړه پریګدهٔ یکښ دوه واخله دچونړ

دمطلب خبرے کړی اثرپه روغو
دکونک ځه په خوږا وازشی یادکونړ

نن د هر ځوک قدر کړی، علی حیدر
نشته بیا چه په ځوانئ د راشی کونړ

ړ

ړنګه دي کوو قصد نن رقيب زمونږ
دے اوده نه دے بيدار نصيب زمونږ

خوږ په زړه يم رنګ دسترګو ترم ګوري
نه پوهيږي په علاج طبيب زمونږ

تنګئ مينه پټول سبب دَخير دے
غماز مشه دَ محفل قريب زمونږ

تور خالونه ئے مچئ زنه ئے ګړدے
خوله پرے کړه مه ګوره دا ترتيب زمونږ

په وريجو کښ دے پټ علی حيدره
لاړه ګوري ورته زړه غريب زمونږ

Aurang Zeb Qasmi.
Mardan.

ز

د قیامت په ورځ به دا وشي آواز
ملائیکو ته چه راولئ بیلماز

د یو مونځ پسر به درے او یا غوپے وي
یو غوپه به وي اتیا کاله دراز

یو یو کال به وي بیا وو سوه کلونه
حقیقت کښې به څوک او وائي مجاز

هر یو کال به وي اتلس شپے ورځے
په دوزخ کښې به تیریږي د غماز

یو یو ورځ به وي بیا زر کلونه وروره
څوک پوره به کړي ددے شمارے انداز

شریعت د کوټے دربار علي حیدره
ته چلیږي کښې ستا د عقل جهاز

ز

شباب عُمر دے عمر کښې عزیز

په پیرۍ کښې نۀ بیا یار شته نۀ عزیز

په قدم د مخو خلقو قدم کېده

چه پوهے ده دو رانو لاړو په تجویز

علم دومره کړه پیدا د زړۀ مکتب کښې

چه پرے کولے شے دَ ښۀ او بد تمیز

مزدوری کوه په خپلو مټو نر شه

بل ته مه کړه په اسره پښے دَ بیز

دَ ټوپك ویشتلے روغ شی خیټے ویښے

نه رغیږی په دمونو په تعویذ

دَ بنده نشے بنده علی حمید ره

رب سره شته خزانه کښې هر یو څیز

س

تاچه پورے کړه دو رايه په خندل لاس
هغه دم دِ راله دواړه او تړل لاس

آتشي اور دِ زما په وجود بل که
راشه کښېږم ده پخپله په ګوګل لاس

دَ هجران په پوړو نشم درختلے
رانزدے شه چه دِ کېدم په اوربل لاس

دَ چاړه په ژبه پلار مور پوهیږي
طبیبان ئې هسے کوري په توکل لاس

دَ عاشق دَ زړهٔ علاج بغیر دَ یاره
لمبه کېږي صحت نهٔ مومي په بل لاس

والي دا علي حیدر دکرچرے مړ شوم
یاد دِ ماله قبر او کښي په خپل لاس

س

معجزه بیا نومه دَ سرور اوس
غوږ پرے کیږه خبر ووم دِ سراسر اوس

یوه ورځے رسول وتے وو صحراته
ناصافی پرے دَ شپونکی راغے نظر اوس

ورته وائی تا به څوک زمانه خلاص کړی
درسره په دے موقع غواړمه شر اوس

همیشه زما خدایا نو ته سپک کوری
پلاس راغلے نه خلاصیږی په هنر لاس

خوشی ځائے دے هیڅوک نشته محمده
ن زما او ستا کشتی ده سر په سر اوس

ستاد لاسه که په مزکه راګذار شم
دیرش بیزے به درله درکړم بهتر اوس

چا ته پر نه یم ترا وسه که تا پر کړم
پر مری به ځان ته کید مه خنجر اوس

لنډه داده یو تر بله مخاخ شو
دے کافر او که آواز بوتانو زر اوس

راز سنگیئ دومره زور لرتا سو غواړم
چه پرے کړے ریز مریز کرمه دَ غرا وس

خپل دشمن م دے موندلے په صحرا کښ
یک تنها دے ورسره نشته لښکر اوس

رکانه پهلوان توپ که خوشحالیږی
تاؤ راتاؤ شه په میدان لکه بندر اوس

پاک رسولؐ هم مبارک لاسونه پورته
په زاری شه کړی دُعا درب په در اوس

ستا رسول یم یا الله ته م خالق یئے
بے له تا م دَ خلاصی نشته رهبر اوس

دَ دُعا نه پس ئے پورته پهلوان که
راګذار ئے سر د لاندے که کافر اوس

غورځید ورسره ئے پاس په سینه کیناست
داسلام وعده ترے غواړی پیغمبر اوس

دے کافر او وے چه بیا دوباره راشه
لات عزی م په احوال ندی خبر اوس

که دِ دا وارے په مزکه راګذار کړم
تا بعدار به شمه شاد پاک اکبر اوس

پیغمبر په دوباره کانړاوچت که
راکذ ارځے کړ دخاورو په بستر اوس
امتیان دَ نبی دومره شوخوشحاله
لکه راشی په روژه پسے اختر اوس
اول توره دَ اسلام په نوم کیده له
کیږی توره په خاطر دَ سیمو زر اوس
شکر چه کوی خو کړعلی حیدره
همیشه برلاندے پروت وی دکمراوس

س

په فریب او مکر مشه د ابلیس
دے په لویه لویه کبیره چار سوبیس
چه راحت چا سره نکړي بے د ظلمه
څوک به ئے څه کړي که بادشاه دے که رئیس
معمّه نه وایم څه عبرت ترے واخله
خپلے ستړگے کړه د سترګو مقناطیس
که ته د خدائے رضا کوے بنده رضا که
نا سړے نه سړے کیږي په تلبیس
هر یو کلے به شي کل علی حیدر ره
که بلبل شي پټواري ملک پولیس

ش

روغ عالم که د هنر په سر معاش
نابینا گرځی د رزق په تلاش

ډیر عالم پره دی تالی او طمع خوار کړه
گرزیدل خوار وی تل عمر عیاش

خود مثال ئې د بې تاره کنکوک شی
شبکته پروت وی په لوړ نه ځی دا کاش

د دُنیا قومونه ټول په بره لاړه
تا صنائع که قیمتی جوندون په تاش

ځان ترې او نغاره کړه چیل عزت د خوښ وی
مه تیرُوزه په دوستئ د بد معاش

داسې ځانې او سره جوشی علی حیدره
چه یاران دې د سرحد نه مومی لاش

ش

چه پیالئے کړه دا ستا دَ مینې نوش
منصُورهله اَنَاالحَقُ اووے په جوش

دَ لیلا دَ کوشے سپے ئے بنکلوُلو
دغه وخت کښ مجنون هیڅ نه وو په هوش

دَ عاشق سیرے کړیوان ته غلط شسه
پټ بادشاه دے په ظاهره دے کند پوش

ګله ستا په قدر ئیو بورا پوهیږی
ګنګوټان دِ هد وخدائے نکړی خروش

دَ کوم قوم چه ژبه مړه شی هغه مړشی
ترے نه غوره دی والله خانه بدوش

په دروغو په دهوکو وطن دَ پاکو
ګنده کیږی نه پاکیږی شه خاموش

وی به تل دَ بیل غلام علی حیدره
مسلمان دَ زمانے ضمیر فروش

ښ

که یم اوښ هسے په اوه ځایه حلال کښ
پیش کوم به د ماضی خبرے حال کښ

په رواج او بے صبرئے او په جګړو
پوفنا شی د پښتون کټه په کال کښ

د چا مشر چه بغیر مهاره اوښ شی
اوښ پرے اوځی [تل] په خټهو د شکال کښ

مشری خو تجارت نه دے خدمت دے
دا خدمت دِ خزانه کړه بیت المال کښ

هندو مړ که خو د غوا د غوښه نه خوری
دا خوروکیږوی رور د زړګ په جال کښ

پټوادی که چرے خدائے جنت له بوځی
غریب هلته نکړی ورک په اشتمال کښ

ځان سره یوسه دولت علی حیدره
د دُنیا تهکرے راوله په خیال کښ

ښ

په محفل کښې وی د کلو بورا کان خوښ
دا کنکوټ دے چه پسروی د ډهیران خوښ
کال په کال به ورته جو نه غوړ زبید له
رود نیل هم وو د مستو په چشمان خوښ
خدایه هر څوک په دُنیا جوړه جوړه کړے
بے جوړے په عمر ندی عاشقان خوښ
پردے زړهٔ از اره ول کعبه ویشتل دی
په ویشتو د کعبے نه وی مسلمان خوښ
رُوح په بیرته نهٔ راځی ملا دروغ دی
که راشلے نو سری نه دی په زندان خوښ
په اسلام کښې کرانه لارا وظلم نشته
په وفا به شے ترمرګه د جانان خوښ
چه صبا م بیا د قبر خوا کښې جاړے
نن م و لے په شلید وے د ګریوان خوښ
واتی دا علی حیدر که زړهٔ نے ورکه
د زردارو خلقو ندی عاجزان خوښ

ص

نه خلاصیږي د یو عالمه که تیا حرص
د قیامت د حاله نه کړه اګاه حرص

د قارون زیرے پرے اوکړه چه خبر شي
په هغو چه واخلي څوک د دُنیا حرص

نه په شپه باندے پوهیږي نه په ورځ وي
دا سے لار کړه د بد بختو خطا حرص

عاقبت به ئے بلعم بن باعور شي
غلبه چه اوکړي دا سے په چا حرص

پلار د ځوئ نه کړي جدا او لور د مور ه
خوره میینه بیله وي په جبرا حرص

غل خوا اُوړے شي د بدے ورځے غلا کړي
ماړه هُم دي عادت کړي په غلا حرص

د مال او روپو دا حرص علي حیدر رض
څومره کم شه او تله د کبر ا حرص

ض

چه دَ چا په کور کښ وی غرُبت مرض
په همت وُرکیږی دا آفت مرض

د راتلو به درله دے وی نهٔ به ور شے
دے په ټولو باندے زیات حاجت مرض

جُدائی په تنګئ سینه کښ سودا شی
دَ سودا نه نشته بل اُوچت مرض

په کنډار دَ تورو زلفو مُسافر شی
هسے نهٔ شی لیونے عادت مرض

لکه اُوښ هسے دَ هر بوټی خوند کورے
په چارا مشه نفسی شهوت مرض

اے عجوشئ علی حیدر ربه دَ فضله ؛ جوړ به نکړی دَ هیچا دولت مرض

ض

که جړا کړم په جړا یم اعتراض
که خندا کړم په خندا یم اعتراض

خدایه څله دې پیدا کړم په دُنیا کښ
چه پیدا شوم په پیدا یم اعتراض

ما نزدے ځان ته څوک نه پرېږدی غریب یم
که نزدے شم لا په دا یم اعتراض

که بے شرمه شم نو هم راپورے خاندی
که حیا کړم په حیا یم اعتراض

که خیرے چا ته کوم بدی پے ښکارم
که دُعا کړم په دُعا یم اعتراض

په یوه کښ نه خلاصیږم لږ دے خلق
په وفا هم په جفا یم اعتراض

بیلما زړے کښ هم جوشی له تا خفه یم
که تقوے کړے په تقوی یم اعتراض

ط

چه یم اولید د خوږ یار لیکلی خط
هیڅ یم اُونه وې خوښکل یم که نقط

کلمه ټې نوشته په سر ورق ده
بختور قلم لیکلی وو خُوشخط

پکښې دا ووچه د شرک نه امان غواړه
لږ منزل دے قدم وانخلې غلط

څوک چه غبرګشي هغه نه دي پاتې شوي
په هغې خلقو شه قهر مُسلط

ډېر اُوچت ډېر پریوتې دواړه مِس شو
زندګي تیرول غوره دي اوسط

په ابجد وکښې بانوے دیار نوم دے
لکه زیب کړی په اوربل کلونه قط

بیا پرے مُهر وو د ګوتې لګیدے
اے جرشي د غه ثبوت او دستخط

●

ط

څوک چه نه دي په وعده اقرار مضبوط
ته هم مکړه ورسره روزګار مضبوط

یار هغه دے چه په مینه کښ سندان وي
څوک کچه نجي ته وائي یار مضبوط

معشوقے دَ عِشق دردنه وي لیدلے
ځکه بل ته ورکوي ګذار مضبوط

کوم اشنا چه هر درے شي نوکنډم شي
بیا ئے مکړه په وعده اعتبار مضبوط

دَ مال خور دوستانه دَ سر خطر وي
په خطره کښ ځان ساته بیدار مضبوط

کوم یو کور کښ چه دَ قتل بوټے نهال شي
خوشحالي ځيُ ورسره وقار مضبوط

دکم عقلو دشمني دا ویش فتنه ده
ورته واچوه په چل مهار مضبوط

پوهے په تار دَ موسیقئ علیؔ حید دے
ځکه وائي رنګینه اشعار مضبوط

ظ

خوښ چه نکړے په دنیا محفل غلیظ
ورسره به دِ شی بد عمل غلیظ

چه دِ پل د لو فـرانو په پل کیښود
عاقبت به دِ ے شی دغه پل غلیظ

که کنډک دِ د نااهـلو آشنایان شی
بیا اصیل نه دِ لوړے شی سل غلیظ

بد اخلاق او بد جامه د سړی نورے
نه بښکاریږی پرے کانړه بقل غلیظ

بے قدری کوی د ځان علی حیدر ره
چه حسین وی لا ساتی اوربل غلیظ

◯

ظ

سورۃ النساپارہ ۵ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاءُ

بندہ اُوساتہ دَ شرک نہ ځان محفوظ
پس لہ هغې بہ دے شي ایمان محفوظ
زیارتونہ صرف ځائے دَ یو عبرت دے
سوال دَ رب کوہ چہ شے دزیان محفوظ
سوال قبول ناقبول دَ اللّٰہ کار دے
څہ بہ اُوساتی اِنسان اِنسان محفوظ
ابوجھل سرہ څومرہ ډیر بُتان وو
دکوم اورنہ یہ ئے کړی بُتان محفوظ
نشی تلے څوک پہ عمل دَ بل جنت لہ
کړوے وو یہ بیا دَ نوحؑ کنعان محفوظ
پہ تبلیغ دَ حق دے ژبہ تتہ نشی
نہ بدلیږی دا دخدائے قرآن محفوظ
پُښتانہ کړہ نۀ شومرد علی حیدر رہ
همیشہ بہ ساتی دا دیوان محفوظ

ع

نه وه کړې په دُنیاکښ خلیل جمع
مسافر وبه خوړه دَ اصیل جمع

خدائے په رزق لا دچا ندے تنگ شوے
سپے هم نه غواړی د ذرهٔ پر دلیل جمع

دا مثل دے د خرو مرګ دَ سپو اخترو ی
پس دَ مرګه شی تالا دَ بخیل جمع

دنا ترسه پټواری رزق به تے کړی
ترے نه شی ده دوه دونړه د وکیل جمع

دَ غریب په خُولو یو روپئ حلاله
پرے نه اخلم خزانه دَ تحصیل جمع

دومره بس دے چه شناګُنته پرے کور کفن شی
صابران نهٔ وی خفه په قلیل جمع

تش لاسو نه به ترے ځی علی حیدره
چا نهٔ پریښودی والله عزرائیل جمع

ع

مسلمانه کوه ډیر خاطر د شرع
هغه ډوب شي چه اوځي بهر د شرع

څو مره ښکلے د مفادو ډکه لار ده
په قانون اوسه مدام شاګرد د شرع

د حلالو د حرامو فرق نه وو
دغه فرق ئے که ښکاره ماهر د شرع

هیڅ یو سوال به ئے بیا هلته قبول نشي
چه څوک شي په دے دنیا منکر د شرع

د تمامو نشو خوند به ترے نه هیر شي
که چا اوسکه یو پیاله ساغر د شرع

غوږ ئے مه کړه په مجاز علی حیدره
خبردار چه نوی کوم شاعر د شرع

غ

لګیدلے یمه ستا دَ عشق په تیغ
ځکه خیږي م دَ سوي زړه کي دریغ
نشانچي چه نښته وُلی هم خطا شي
ستا دَ سترګو غشے لګِي اکثر نیغ
دا سے وار دے دَ ځوانئ پر موسم راغے
لکه راشي دَ سپرلي موسم په ریغ
په رنړا به دِ دَ مخ جهان لمبه شي
که راخور پرے ندوي ستا دَ زلفو میغ
په رښتیا ئے کړه اشنا علی حیدره
سرته ندرسي یو مینه په دروېغ

غ

وایه څو یې راکوې د زړه پسر داغ
د رقیب په لمسه تر شام او سحر داغ

د مجنون یم داغونه په زړه ډیر دي
که یو یو یم در ښکاره شه په ټیکر داغ

کوم ساعت چه دې لاس تاؤ که د رقیبه
ماوې دا یم آخیري دې دسفر داغ

مګر روح د چا په وس کښ نه دې څرګوم
ګنړه څوک زما پشان دي سراسر داغ

اود نه ژړل لا بیا هم په خندا شوې
کیښوده چه دې په ما علی حیدر داغ

ف

چه تر منځ د دوؤ راشي اختلاف
روغه نه کیږي په خُولے د بے انصاف
بختوروي چه څوک دوه زړونه یو ځائے کړي
زه هغے سړي ته وایم اشراف
راز د زړه چه څوک تا پوهه ته ښکاره کړي
خود خبر یږي تر ے ټلو رواړه اطراف
هغه زه وو م لیونے چه حال م اُووے
لیونی تکړے مومي په اسراف
چه پیسه کوي کوم کار په عاشقۍ کښ
هغه نشي په زیارت او په غلاف
مجازي یاري د لارے مشغولا ده
زه له داسے بُت نه نه کوم طواف
بکوري یار علي حمید رخوچه صادق وي
که پښتون وي که جولا وي که نداف

ف

که بد خویه تہ شوک اُووائی شریف
داخندا ده ورپورے ندے تعریف
دا اخلاق دَ انسان زیرے دَ جنت دے
بد اخلاقه به وی تول عُمر خفیف
چه صبلئے په دوشتئ ستومانه کیږے
نن توبه کړه له دے هسے رنک حریف
څوان هغه دے چه کړی صبر په غُصه کښ
خفه نشی په زورنه دَ ضعیف
چه پوهیږه مرهره بل ته نصیحت کړم
تکوره چاپ زما نولس تصانیف

شاعر هلال شی جوشی علی حیدر
چه شی پوره په قافیه او په ردیف

ق

ستا دا مینه کوټ دَ شهد و دے مطلق
دَ همه وُ دوا یانو دے غرق

یاره سود رٔم ټے په ځان او پر خاوړو
په شریکه یارانه پریوزه چړق

لا رقیب څه چه دمرګه ورته تیر شم
چه دِ مچ کینی دَ شوندو په شَفق

ستا په یو موسکا درنه نوابي ناخلم
سر دِ اُوخوری دغه درے ورځے رونق

چه په زړهٔ کښ دچا نور دَ مینے راشی
مرګم خوند ے که ټے اُوے اَنَّ الحَقُ

که چا ولیدے اشنا زما په سترګو
او به نړوهی بیا ستا دَ حُسن رق

تفاوت دے دَ لید وا او رید و منځ کښ
اے جوشی علی حیدر ره یوسپق

ق

نن یم بیا اوچی دخولے گفتار د عشق
روغو سترگو کبنې یم مات شو خمار د عشق

غمازیان به یم دلبرته لمسون نکړی
که پوځل شی ورپسے انکار د عشق

خلق نوے چاله اغوندی اختر دے
زهٔ زړه جامه گنډم په تار د عشق

لمبهٔ واره یم په سر خاورے نولی خاندی
ما دیار غم جړوی په لار د عشق

اَنَا الحق که منصور وبے مراد ئے بل وو
څوک ئے شله خیجه وی په دار د عشق

که لقمان غونده حکیم ئے سرته کینی
نه رغیږی په دارو بیمار د عشق

تهٔ هم یا علی حمید ره صبر نهٔ وے
اوخوړلے اژدها خامار د عشق

ق

نه ورانیږي چرې کور د اتفاق
که مرض پکښې راننوځي د نفاق
یو ئې مه گڼه که زره ئې چرې سپین وي
دغه یو سرې دوه کیږي په اخلاق
نیک عمل د سرې دین او هم د دنیا ده
بداخلاقه ټول عمري وي په مصیبت تاراق
که ئې زر سر کنده او خوړل د روغ دي
مه تیروزه د بې عملو په طلاق
څوک څو کټي د کډو ونکړي په شرح
که ولي شي د بغداد او د عراق

هر عاشق د خوږ اسلام علي حیدر ه
بچ کوي وطن د غم او د فراق

ق

خدایه راکړے د نیکئ راله توفیق
چه عمل مې شی د ټول عُمر رفیق

خدایه ته رانه ناراض مشه رضا شے
په حرمت د اصحابو د خلیق

خدایه ته خو لا شریک صمد قدیر ئے
دے پر جبه مې اقرار په زړه تصدیق

خدایه ته د تمامی جهان رزاق ئے
حقیقت کښې به څوک څه اوکړی تحقیق

علم دیر شه خو عمل په علم نشته
ناپوهان وائی کو کنړے ته عقیق

خدایه ما علی حیدر ته غفوه اوکړه
په دریاب کښې د ګناه یمه غریق

ک

تهٔ بے غم شه غم په ما باندے انبار کَ
زهٔ چه څومره بوجه اوړم هغه تیار کَ

که وبال که وقار وی ستا په عشق کښ
ددے دواړو تاب لرم خو رقیب خوار کَ

ضیافت دَ محبت راکړه مفتون شوم
مضطرب دے زما زړهٔ ته ئے قرار کَ

تکبر به دے ترڅو وی په خپل حُسن
یا رخصت راکړه چه ځمه یا رم یار کَ

ستا یاری مقدمه دَ دیوانئ شوه
سترګے سپینے دَ آواز په انتظار کَ

په رقیب مه رټه بچپله خیر دے
ډیر خطر زما دَ عشق دَ اظهار کَ

ستا هجران زپلے زهٔ علی حیدر یم
رابخاره دَ وصال دَ ګلو هار کَ

ک

(پہ دے شونډے نخوږی)

خلق خاندی اے زړګیه تۀ جړاک
لږ ساعت کښ سړے شہ رنګ لہ ښیداک

دا د دهر یاران لرے کړه د ځانه
هر چه ستا قدر کړی نن هغه آشناک

دا سے رنګ دیدن د یار جنت لیدل دی
لکه تیس سره چه شه رنګ لیلاک

ستا له تسه را نه ځان جهان هیر دے
تۀ لا دیکښ ترس نه لوے خنداک

اے شاعر علی حیدر ځان ترے نغاړه
چه یارے کښ کله هغه کله داک

ګ

چه په دین او په مذهب اُونکړی ننګ
خرشوی د کوتی لال غونده کښ رنګ

ګنګو تپان د ګنګټی یار رغړوی سپک شو
چالاید وټیلی نهٔ دی په پتنګ

راشه او سوزه د قوم په محبت کښ
چه تاریخ کښ دِ نوم نوټ شی د اورنګ

د عُمر غونده په عدل کوه فخر
نادان مشه چه کوے فخر په جنګ

پیښخو هُم چک لګوی چه سوخت واخلی
خیال کوه چه دا سے هیڅوک نکړے تنګ

د جُوشی علی حمید رخوا ږهٔ شعرونه
کړی پخپله لیونټے د رباب ټنګ

ل

بحواله قرآن کریم

تکبر به دِے نیمګړے کړی عزت خپل

عاجزی به دے معروف کړی شرافت خپل

تکبر چه شیطان اُوکړو ټے تورشه

بے فائدے شه ورته واړه عبادت خپل

دَجنّت نه راګذارحوا آدم شول

نفس ترے پاتے که هغه عیش او عشرت خپل

په دُنیا کښ یو قرآن او حدیث واخله

درسره به خدائے ملګرے کړی طاقت خپل

فرعون کوره دَخدائے دعوه کوله

موسیٰ ووپه عصا دَصداقت خپل

هر فرعون له موسیٰ دے پیدا شوے

واحد او ګڼره الله په مُحبّت خپل

ابراهیمؑ خلیل الله دَ اور په منځ کښ

سلامت وو رب ساتلے په قدرت خپل

نمرود کوره دَ الله دَ دوست دښمن شهٔ
رَسوَلے ورته ماشی دے قسمت خپل

شداد جوړے کړے مانړۍ چه وردرون شه
رُوح ورکړ شه محروم دَ جنت خپل

قارون ډیر حرص کوؤ هضم نهٔ کړو
ورمنډلے دے په مزکه کښ دولت خپل

نوم پرے شوے دَ معوذا و د معاذ دے
ابوجهل دے وجلے جهالت خپل

نُوح که هر څو هدایت کوؤ کنعان ته
بے عمله شه دَ پلار په هدایت خپل

بلعم او خوره دهوکه نفسِ خپل که
مالِ واغست په بدله دَ کرامت خپل

مریدان ډیر دَ بلعم بن باعور شته
هیرے نه کړو دَ پیشوغونده عادت خپل

یوسفؑ کوره چه خپل حُسن ته مغرور شه
غم ورمونده همیشه دے مصیبت خپل

زلیخے بی بی په جیل کښ بندیوان که
چه رها شه بیائے نوټ کړه حکایت خپل

دا سے اوکوره ایوب علیه السّلام ته

چه شیطان ورته یلوه کړ رعیت خپل

خو دِ صبر که اختیار وطن ئے پرېخود

هر پریوتے اُو چتیږی په همت خپل

ته همت کوه بنده کوُ نکے خدائے دے

ایوب بیا مونده په صبر حکومت خپل

دَ جنت کټه په لویه قربانئ شی

په تش چُف به نوم نشان نکړی اُوچت خپل

چه بیناوی دا وئیل به زما بشکل کړی

روند به هیڅوک نکړی پوئے په اشارت خپل

بے مهاره اُوش په نیغه لاره نهٔ ځی

هر مراد موهی انسان په لیاقت خپل

په براق د عشق سور علی حیدر دے

چه ورزیږه برکړے بروے علمیت خپل

—:•:—

ل

ابراهیم خلیل الله چه اوکه سوال
زر منظور شو په درګاه دَلایزال

سوالِ دا وو چه دا مړی څنګ ژوندی شی
تلے روح ورله بیا راولے فِی‌الحال

پاک الله ورته وئیل زما خلیله
ورشه اُونیسه څلور مارغان په جال

چه مارغان کړے ګرفتار بنړے ترے لرکړه
باقی غوښه ئے قیمه کړه واوره حال

چه قیمه شی بیا هغه کړه څلور ځایه
بیله بیله غوښه کیږده په دیوال

ته خالی سرونه اُونیسه په لاس کښ
ورته ګوره په قدرت دَ ذوالجلال

ځِل ځِل سر پورے به هغه غوښه نښلی
هر مارغه به الوتونکه شی لیوال

ابراهیم خلیل الله په دغه شکل
دَ مارغانو سره اُوکه دا کمال

ټکیدلے غوښه بیا سره یو ځائے شوه
خدائے ژوندی کړه د مارغانو په مثال
الله مړهٔ ژوندی کوی او ژوندی مړه کړه
لیږ د چرګو په اکو اولره خیال
د جوشی علی حیدر شاعری خوند که
نه تر خیږی لا خو بدیږی کال په کال

ل

وائی خدائے بنده په دے مشه ملال
که غریب ئې کړے پیدا په دا سے حال
مال او نفس په بدله د جنتونو
مالدارانو دی اغستی په دا خیال
که مالدار د کرم بندهٔ بیا یه غرور کړے
په غرور سره به بیا موځے زوال
مانه نشته ځوک خواږهٔ د خپل حبیبه
چه ئې غونیستے لامکان ته وو هلال
دا سے دوست به زمانهٔ کښے تیر و لے
ما سره د هغے نهٔ ورکوو مال

وجه دا ده چه مسکین بنده یم خوشروی
مصیبت پرے دا ولمه کال په کال

ستړکو رپ کښ به دا تمول غرق نه د سرو کړم
خپل دوستان به پرے همه کړمه خوشحال

مکو سره او سپین وفا چا سره نکړی
هیڅ به یو نه شی بغیره د خپل اعمال

بادشاهان یم کړه پیدا بیا یم فنا کړه
خالی لاس د فقیرانو په مثال

که دا تمول وطن شی ستا علی حیدره ؛ صدقه شه د جنت تر یو خیال

ل

چه قوم نۀ غواړی پخپله ځان بدل
تو هغے به نکړی خدائے جهان بدل

که څوک وائی چه بُزدِک شوے کراندۀ
په نیک خوئی سره به شی انسان بدل

زړۀ که ستا دے خو قبضه پرے دشیطان ده
دَ هیبت په توره کړه نشان بدل

دا خزان وهلی بُوټی به زرغون شی
که چاغله کړه دَ رشوت امان بدل

غل دَ شپے ایمان یاښلی چه کُټ ته کینی
تا دَ ورځے کړ دا خپل ایمان بدل

چه مذهب دے شر سوټے پیسه دِ رب شی
کنړه کونت یاندے دِ کړه قرآن بدل

کوم حاکم چه شی فرعون علیؔ حیدر ته
تور دکن نه دِ خدائے کړی شیطان بدل

ل

ستا د حُسن په دُنیا کښې نه وی مثل
خانه شُعله ما توے زړګے د بل

د پتنګ تپوس به هم د شمع کیږی
وا یه څو مره دے په ژوند کښې اُوسیزل

څوک چه بل سیزی هغه پخپله سوزی
اے چراغه ته به هُم سوزے یو ځل

تۀ هغے کوه موجُونه چه ګلاب یے
چه د نهر د شوے بیا دے څه کوی بُلبل

دا موسم دے د تاوان او د فائدے دے
خو بنه شا ده که دشمن کورے که خپل

یو ګذار به ترے چاپیره سرپیچک شی
تل به ګُنجی ګُنجی نه وی دا ااوربل

په خاطر د خپل خائست علی حیدر ته
ور بسکاره کړه تورے سترګے په کجل

ل

کہ شوک سر و مال تالا کړي په کم اصل

لکه غواړي د خورے زړګے نه فصل

همیشه توره په اصل غوښول کړي

غوښه نکړي چه خرابه وي په نسل

محبت د شیرینۍ عونده پکار دے

چه نامے شوه فرهاده سره وصل

په داهسے محبت عاشق درنیږي

دا سپکیږي د کم اصل سره اصل

اُمتي د هغه چا علي حیدر دے

چه په ارض په سما دے ضرب المثل

ما پخپله په دے سترګو اُولیدل

هغه لوټے کورونه بنکته پریوتل

چه کاسه ترغړۍ ډکه شي نو واوړي

تا به هُم وي اوریدلے دا متل

دوه چُغل دیو تحصیل دپاره بس دي

بے جګړے نه پریکدي پردي اوخپل

چہ ظاہرہ دروغ وائی خدائے گواہ کړی

شیطان کم ګنړه په دا سے بد عمل

استاد ا شعر دے دریاب علی حمیدہ

دریاب نشی کمیدے په څکو د غل

د ډیر عالم د نازخند اا و شرمول

څوک عادت د سینما او شرمول

کوم سری چه په مذہب شو د زنانو

خدائے په دے د دُنیا صفا او شرمول

د صراط په پُل ئے تله ګران شو غوړزیږی

مقتدیان آنپړ مُلا او شرمول

خپل ایمان ئے په میلوکښ په غضب وی

د لالان ئے پیسو لا او شرمول

په کړاوے د نصیب نه سپوا نکړه

حارثان وارہ دُنیا او شرمول

زما ستا حقونه خوری مارډه پرے نشو

مشران د کلی غلا اُو شرمول

شیطان هسے شو بدنام علی حیدره
مخلوقونه خوریا اوشرمول

ل

وبیم دِ موسکئے شولے چا اولمسولے راغلے
بیا دِ عاشقانو ته پیالو کښ شراب واچول

اُو دِ وے همزولو ته چه ټټی غارے مِ اوکړلے
زُلفے مِ تارونه دَ مجنون په رباب واچول

بلے کړی دِ یوے دَ پتنګانو تماشے اوکړې
وُلے پلوونه وم په مخ دنقاب واچول

دا خو سپیلنی نه ووچه ځان ته مو لوږے کړلو
دا خو دَ چا زړونه ووچه مونږ ترے کباب واچول

زړهٔ کښ خو مِ ترس دے خوستر کے مِ تاتلے دی
ما ته زنځیرونه څکه خدائے دَ عذاب واچول

یا علی حیدره دِ یرم خوش ئے خو ناچاره ئے
څکه مِ لاسونه په اوګو دَ نواب واچول

م

غریبئ کښ دَ خندا غونده کښ شوم
دَ پردو خپلو ځدا غونده کښ شوم

چه ځوانی م وه دَ هر سړی آشنا وُم
په پیرئ کښ نا آشنا غونده کښ شوم

خدایه څه جوند دے چه ټول عمر له غم وی
خپل نصیب ته په جړا غونده کښ شوم

دَ شباب دَ عُمر قدر ہله راغے
چه نا توسونه وبریا غونده کښ شوم

څنګ چه ته ئے داسے زهٔ وُم اُوس به ته رشے
ما ته کوره دا رخطا غونده کښ شوم

پرون راغلم نن دے صبا به بیا ځم
مسافر له دے دُنیا غونده کښ شوم

خلقه زهٔ علی حیدر دَ غم دَ پاره
له دے خاورو نه پیدا غونده کښ شوم

م

خدایه ستا د امتحان به وی کوم

بے اقباله مسلمان به وی ترکوم

مسلمان خو ټول د یو نیکهٔ اولاد دے

ناخبره د قرآن به وی ترکوم

په هر ځائے وه کور په کور نفسی ده

دا مرض په دے جهان به وی ترکوم

د پیدا نه دے غریب د بل محتاج که

دا محتاج په ویر د ځان به وی ترکوم

سپے خو نهٔ دے ربه ته پرمهربان شے

ناست په در د کبن د چا خان به وی ترکوم

پوره نه شو ستا نصیب علی حیدره

دا مرکبن نختے د هجران به وی ترکوم

م

لاس مې هډو په سرمه وهه غمجن يم
زۀ مايوس په دوستانو د دروغجن يم

عاشقان مې تش ديدن په اختر بولي
د بې عشقه ځکېن بې نقصه چينجن يم

هيڅ ثبوت ئې د وفا راسره نشته
زۀ په داسې بې وفا آشنا مېئن يم

نۀ تصديق لوي په زړۀ نۀ ئې اقرار شته
تېر وتلې زۀ په رنګ د برهمن يم

د اُوبن په څېه کښې خوبي د نائې ګورم
زۀ جوشي علي حيدر د ځان دُشمن يم

شاعري مې پرېښودله د زمانې د
ثريا مته ښه روند ے په دا وطن يم

م

دیوانہ دَ اشری نظر نہ یم
راپریوتے دَ عظیم کمر نہ یم
ماتہ چاوے چہ پہ لوړو لوړو ګرځہ
چہ اوس تنګ دَ بیلتانہ دَ شر نہ یم
دَ وصال پہ طمع زوړ شوم موړ نہ شوم
نااُمیدہ لا دیدار دَ دړ نہ یم
دَ بحرین پہ چپہ اویم ور لاھو کړئ
تنګ پہ داسے زندګئ دَ سر نہ یم
دَ زړګی واکدار یم شہ معالج نشتہ
زۀ پہ ځائے خفہ دَ خپل دلبر نہ یم
پټ مئین وم ماخوحال ھیچا تہ نۀ وے
رسوا شوے دَ زخمی ځیګر نہ یم
دا څہ جوړ ندئے جوشی علی حیدرہ
ناګاہ چہ دَ خپل خوب اختر نہ یم

م

بغیر له تا نه یاره نور چا جوړ لې یم
په لمسه دَ غمازو ستا خندا جوړ دې یم
نه پوهېږم په څوانئ شوم نه دیږغک په مینه راکه
ستا دا سې ناکړدو زهٔ په دُنیا جوړ دې یم

نه څپل شته نه پردې چه دیږغم را سره نیم کړي
دې پېنډ په سرد هجر یکتها جوړ دې یم

زهٔ طمع دوصال کړم هغه خیال زما غلط دی
پرون دې بیا دَ قصدهٔ په جبرا جوړ دې یم

دَ بل په خوا کښې ناسته معشوقه د عاشق مرګ دې
دَ مرګه دې زیات څوشحاله اشنا جوړ دې یم

تو لې به لکه با ز علی حمید ر په ستړ کو کیږي
بیا نه به وائي دا چه عشقه تا جوړ دې یم

م

څان که خلاص کړې په دُنیا د کور د غم

نه خلاصیږې هیچرې د گور د غم

که غافل شوې دغه دوه غله به دې لوټ کړي

مکره خوب بې خطرې د چور د غم

په توبه د صدق لوټې گناه معاف شي

په سجود چه رب ته شې نسکور د غم

دلته تیره کړه سختي حضرت بلال رضه

مه بریږه هلته بیا د اُور د غم

شهادت دې شه نصیب علي سید ره

بل ته هم وایه چه خلاص شي نور د غم

م

په ګلونو کښې موندلے شي ګل یو نیم
واړه نه دي خوشبوئي کوي تل یو نیم

شمار نشته په دُنیا ډیر عاشقان دي
کوي خوب د معشوقې په څنګل یو نیم

دا یو فضل دے د خدائے چه پیدا وشي
د ګوهر کړي سمندر کښې موندل یو نیم

ډیر په پوره تر پوره کوډي کامیاب نشي
تر آسمانه رسوي تخیّل یو نیم

ما چه کله د یار دواړه شونډې نسکل کړې
ډیر د سُوخته په جبرا شو خندل یو نیم

ما ته خو مره د پښتون وینه خوږه ده
هر کتاب کښې پړه لیکمه غزل یو نیم

دا پُښتون وطن کړه دروند علي حیدره
خلق ډیر دے خو کوي د ره نول یو نیم ؟

م

اے اُوبنده مه بر پریکه که زما قسمت دَ اُولید
درانۀ درانۀ غمونه په خپل سردَ یار اوړم

تۀ بیا زمانه بنۀ ئے موړشے بوتی چرته اوخورے
زۀ تش کچکول پخاره هر سحر دَ یار اوړم

تۀ بیا زمانه بنۀ ئے تښے اُوښکے دِ بهیږی
زۀ روزګذار دَ هجر په خنجر دَ یار اوړم

تۀ بیا زمانه بنۀ ئے چه دِ یو مهار غلام ئے
زۀ ډیرو غلامو کښې سپک نظر دیار اوړم

بختیان دی هغه څوک چه په رضا جوړه جوړ شی
زۀ زړۀ له ناامیده تش خبر دَ یار اوړم

اخر به شی په ماکه یو کذار راته مو سکے شی
دا یار دا حسانونو به په سر دَ یار اوړم

زما په غریبئ پورے مالدار ره ولے خاندے
زۀ نخے له دَ عشق تهول دَ فتر دیار اوړم

دُعا که عاشقانو او کړه ما علی حیدر ته
دَ حُسن په تقسیم کښې به نمبر دَ یار اوړم

۴

پاک رسول وائي که زه د رب نه سوال کړم
یقین نه دے چه به سره او سپین سنبال کړم
امتیانو زه په دوجهان ساقي یم
نه یم جبعه کړه ترا وسه نه ئے خیال کړم
الله وائي که څه غوارے مانه غواړه
زه به هله شم خوشحال چه تا خوشحال کړم
ما قبولي خزانے د جهان نه کړے
زړه مې دا غواړي چه دین اسلام مثال کړم
ته هم راشه امتي که دیدار غواړے
په قدم مې قدم کده چه دِ بلال کړم

خدایه ما علي حیدر له توفیق راکړے
چه نثار د محمد جان او مال کړم

م

اُمتی دَ پاک نبی خیرالبشر یم
دَ ښائیست ئے سُورے دَ زړهٔ پسر یم
پهٔ دا خه که یم جوندے پهٔ دُنیا کړُم
زهٔ پهٔ غم کښ دَ حبیب دَ مړو بتر یم
اِتفاق م دَ هیچا سره رانغلو
ځکه زهٔ پهٔ عشق کښ پټ دَ خدائے کافر یم
کوم بنده چه شی غرقاب دَ خدائے پهٔ عشقے
دادے وائی چه ورتلونکے تر کوثر یم
دَ شیطان دَ مُحبت نه امان غواړم
دَ صراط پهٔ پل ولاړ دیر پهٔ خطر یم

خدایه ما علی حیدر بے عشقه مکړے
خوښ پهٔ داسے مینه زهٔ علی حیدر یم

م

شته صحیح ابن ماجه کښ دا کلام
دیک مُرده په پوخ نکړے دَ مابنام
دِ بنے ذوے دی تر درے وُرځو پورے
که چا او خوړ هغه وابه دے حرام
حواله ده په شامی عالمګیری کښ
ما په دے سترګو دے کړے ورته فام
مابنام خوره چه څه وایم هغه حق دی
اعتراض دَ مشکوٰة نکړے را ته دام
دَ دے اصل واقعه ابو داوَد کښ
شته او کوره چه ئے پوئے شے په انجام
که چا دا رسم کړ مات صحیح حدیث دے
خبره وم پرے همه واره خاصُ عام
پیغمبر وائی دَ سلو شهیدانو
ثوابو نه شته هغه لره انعام
څوک چه رسم څُوبنه ونکے شه دُنیا کښ
طحاوی نیکی چه غل دے دَ اِ سلام

دغه چا تو به قبیلیږي حضرت وائي

په تو به دَ بد عتي شته غټ السلام

دا حدیث دے صفحه چه ابن عباس کښ

زه دَ خانه چا ته نه کړم دا پیغام

چه په دین کښه کوي علی حیدره

ورک دے شي که مقتدي دے که امام

م

روغ په زړو کښ خلور دي یا شه کم

لیوني دي نور همه واړه عالم

نه دي روغ چه کوي غم صرف دَ خېټې

بدلوي په اسے غم دا خر غم

څوک چه روغ دي هغه نمر شي نه په تیږي

ملائک پرے رحمت وائي دم په دم

هم به دلته هم به هلته سرفرازوي

چه په چا اوشي دَ خدائے فضل وکرم

څوک چه اوکړي چه خدائے زما رازق دے

کیږه نکدي دَ مظلوم په سرقدم

په خپل کسب کښې هر څوک علی حیدر زه

غله دی نشته څوک د خدائے د پاره سم

م

لته ور کړی چه ځان چا ته ورنزدے کړی

دا رنت بال دے که غریب دے نه پوهیږم

زمانے چه باغ د زاغ په حواله کړه

دا تعمیر دے که تخریب دے نه پوهیږم

غوټی په زړه یم داغ په ولی راله کوری

دا پیغل دے که حبیب دے نه پوهیږم

تښتے طمع راکوی علاج ئے څنګ کړی

دا راغلے کوم طبیب دے نه پوهیږم

زندگی م هسے ورانه مشوره شوه

چه عروج په کوم ترتیب دے نه پوهیږم

کله غابښ راته بیچی کله موسکے شی

دا م یار دے که رقیب دے نه پوهیږم

خوشحال نکړے زمانے علی حیدره

چه دا ستا څه رنګ نصیب دے نه پوهیږم

م

زماژوند

ځوانی م بنه وه خو فرقت یوړم
ډیرو غمونو مُصیبت یوړم

لکه ځېڅې په تن کښې وینه زما
نشته دے دا سے مُحبت یوړم

لکه د سریځ م د شپے تبه نیسی
په عزیزانو کښے غُربت یوړم

ورځ م هم شی د خا پیرک په مثال
د چا په سترګو کښے هیبت یوړم

لکه د ځج ټکوم سر د غمه
ستا نا کړدو خپل صداقت یوړم

ذره م د دا سنګه مقناطیس خوندوے
اشنا چه دا سے دے اوچت یوړم

علی حمید روانی لا زوړ خونړیه
که چرے مرم ستا نزاکت یوړم

م

پنځلسمه سپاره رکوع پنځمه

دَ هغې آيات معنیٰ درته کړومَ

الله دائی که څه غواړے مانه غواړه

خیرا او شر بنده ته زهٔ وررسومَ

بے له خدایه عبادت دَ چا او نه کړے

په معنیٰ دَ خپل قرآن دِ پوهه وُمَ

هر ذی رُوح له آخر ذائقة الموت دے

بے له خدایه پاتے هیڅوک نه منمَ

که دِ نذر دبل چاپه نامه ورکه

لاړے غیر شوے نهِ ئے نهٔ دِ څهٔ یمَ

هر یو قبر دے زیارت عبرت تِرِ واخله

فقط دومره چه ته لاړے زهٔ درځمَ

نه چه ته ورته سجده یا طواف کړے

په دا کړه به شے خوراک دَ جهنمَ

وائی دا علی حیدر چه مواحد شه

مُسلمان به درته هله اُوایمَ

ن

دا مثل دے کہ ښوک سل کورہ کړي وران
خپل یو کور بہ پرے هر ګز نه کړي ودان

راضي مشه د بلبل په مرګ ګلاب
صبا ستا په کور راتلونکے دے خزان

حق منل نه وو د نوح په زمانه کښ
خدائے لاهو کړه په دریاب او په طوفان

پسرلے شه چه په ګلو خایسته ښکاره
خزان نښے چه په ویر کړے بلبلان

داسے خوئ کړه چه جوند ئے پس د مرګه
تکبر به دے کړي شکسته او ویران

لکه رند خله دیل په سترګو ګرزے
لار په خپلو سترګو اووینه قربان

په جنت کښ نه میوے او نه شراب شته
چه ښویو نسے د خپل کوره سامان

په مقدار د خپل عمل علي حسید ره
بنده مومي که فائده وي که نقصان

(بحواله حجة الاسلام)

ن

دَ سحر مونځ چه قضا کړي مُسلمان
شي ویزاره دَ هغې بنده ایمان
ما پښین مونځ چه قضا کړي شوک دَ قصده
دَ هغه نه شي جُدا پیغمبران
ما زیګر مونځ چه قضا کړي حال داشي
فرښتې ترې دَ رحمت لوړې کړي ځان
د ماښام مونځ چه قضا کړي زیان بې راځي
هغه دم شي ترې خفه دَ خدائے قرآن
ماسخوتن مونځ چه قضا کړي کتاب وائي
دَ هغه نه شي جُدا غني سبحان
تر په دے تهولو سجد وکښې غیر حاضر شوے
کړه مرے ولے په یو سجده شیطان
تهٔ پچپله شه مُنصف په دے خبره
چه شیطان زیات ګنهګار شه که انسان
زهٔ جوشي علي حیدر پچپله ځان ته
بل ته هم ښکاره کوم دَ خدائے اعلان

ن

چه صحیح عمل د وی په منبل قرآن
مزکه څه کئ چه شوے پورته په آسمان

ته چه توره د خالد زره د عمر شے
د لبیک آواز به واورے په ایمان

که تپوس غونډه عادت شوے په مُردارو
مور به شے خودروند به نشے په جهان

رنړه بله کړه د جهل په تیرو کبن
د دولت په مینه مه ورکوه ځان

بے تعلیمو که غلطئ پکبن اونکړے
ملغلرے دی شعرونه د دیوان

زنده باد هسے د خلقو هو پیسے شی
تمیز نه کیږی د بُت اود انسان

که مزدور ترے واخلی لاس علی حیدره
خدائیگو مړه به شی د لوږے نه خانان

☆

(ن)

که بنده چېرې بنده شي د رحمان
کوم يو کار دې چه هغه ته به شي ګران

ناممکن کار زما کتاب کښې نشته
هر يو کار شي په همت باندې آسان

خوږه دوره که په جنګ عزت موندې شوې
بيا به سپي وو د بتول کلي مشران

دا بنده وجله والله که څه نرتوب وې
زړه ساتل ګنړه نرتوب د مسلمان

مقناطيس شه څه خوبي ځان کښې پيدا کړه
نه چه طمع دِ کړې بل پسې روان

د سړو مشر به تول عمر سړې وي
د خرو مشر به وي بې نفع اِنسان

بنه او بد د بنده دواړه خپل عمل دې
که څوک خير لټوي ځان له که تاوان

روغ عالم چه قدم ګدي نو وړاندې ګوري
دا ړانده دي چه ويښتې نشي نښان

یوسف زي علي حیدر دا سے نبکاره کړه

لکه نمر چه شي نبکاره په کل جهان

لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ (ن)

په ځان مکڼه هسے نوم د مُسلمان

چه څه نښه درکښ نوي د ایمان

نه یعقوب غونده روند شوے په سترګو

نه لا پروت ئے په کوهي کښ د کنعان

نه ایوب غونده دِ صبر وظیفه شه

نه دِ اُوخوړل دا غونده هجران

نه موسی غونده عصی کښ دِ کمال شته

نه جوړ شوے نګین د سلیمان

نه خالد بن ولید غونده کښ نر شوے

نه دِ خوئي شه د علي مردِ میدان

نه عُمر غونده انصاف پتا کښ راغے

نه دِ ځجے کړے ښکلے په قرآن

نه حمزه غونده دِ تن ټکے ټکے شه

نه د دین په غم کښ شوے سرے کریوان

نہ صدیقؓ نہ عثمانؓ نہ بلالؓ شوے
چہ دِ چپل کړی محمدؐ آخر زمان
تش د راکہ مسئلہ دِ دہ زدہ کړے
لا دِ ناست نہ دی هیڅوک پہ دسترخوان
هیڅ حاجت د اسے اوکړو تسپوتہ نشتہ۔
پیتہ مینہ خوہ خوی غنی سبحان
واتی دا علی حیدر چہ نہ د خدائے شہ
خدائے څوک نہ وجنی د رزق پہ ارمان

(ن)

یوہ ښځہ لا رکښ ناستہ وہ قربان
یو سړی ترے تپوس اوکړ پہ دا شان
ښځے څوک تہ څہ غرض باندِ ئے ناستہ
دا نازک بدن دے څہ لری ارمان
ښځے اووے ما خاوند لید لے نۀ دے
د خاوند ارزو لرمہ پہ جہان
دے سړی ورتہ وئیل زۀ دِ خاوند شوم
دے کښ بل شہ را ښکارہ عجیبہ څوان

هغهٔ هم ورته ویل چه واوره ښځے
ما خاوند کړه ته زم شه د کور زنان

دریم کس پے پاند ے هم راغے د پاسه
هغه هُم د ښځے دا اوکه پُرسان

دغه ښځے ورته کیسه و دله غاړه
په خپل خیال ټے شو درے واړه خاوندان

یو ویل ښځه زما بل وے زما ده
دریم کس ودسره هم کړے وو زبان

ځوانه واوره شریعت ټے مقرر کړه
شو د ښځے سره درے واړه روان

شریعت کښ به دا ښځه د چا رسی
کوم کوم کس به شی اخته په ویر دُځان

اوس پرے دلته شه خاموش علی حیدره
چه ملا صاحب به څه کوی بیان

و

که چا اُو خوړ په زړهٔ دَ عشق کذاریو
او په نکړی دُ دُنیا په مخ روزګار یو

حق حیران د زمانے په دا ګردش یم
چه همراهِ پیدا نکه دَ ناچار یو

بے موقع راته ډیر واڼی چه دِ خپل یم
د حاجت په وخت کښ بیا نوی پکار یو

هر یو بوټی لره وخت په وخت خزان وی
دا خرماده چه پرے هر وخت وی بهار یو

تش په شکل خو به هر سړے سړے وی
دا منصور وو چه خټلے وو په دار یو

په جړ مشه دَ بنړ یا علیؑ حیدره
کیرے لا نده به یُے غوته وی زنار یو

و

هغه کال نوبهار غونده کښ وو
عجیبه ډول سنګار غونده کښ وو

یمتی ګل م لیدلے وو چمن کښ
د بلبلو پرے چغار غونده کښ وو

نن م اُولید هغه چمن ویجاړ دے
بے مالیاره خوار وزار غونده کښ وو

ګنګوټ څه پروانه د شمع د رڼا کړی
دا پتنګ سوے په نار غونده کښ وو

مُنافِق دِ سل لوګے تریو صادق شی
پیچیده یم دا ګفتار غونده کښ وو

ترڅنګه مسته چه ته تهوله ځان له ر اخلے
دیکښ بیل هم حصه دار غونده کښ وو

هغه پلار نصیحت چرے ځوئ ته نکړی
چه چنیله غل شو کسمار غونده کښ وو

که حرص نه وے پکښ علی حیدرؓ
هر سړے به پرهیزګار غونده کښ وو

و

ربه ته راکړے ايمان د سود خورو
ته به سوزی په نیران د سود خورو
په قیامت به دا سے سخته په چا نوی
لکه وی چه به په ځان د سود خورو
شکل خوراک ورسره مړکوئ نا روا دے
حال به واوره کړم عیان د سود خورو
مونځ روژه حج زکوٰة نه قبلیږی
الله کړے دے بیان د سود خورو
ورکو نکے اخستونکے پرے ګواه هم
که دی حکم کښ یو شان د سود خورو
بل چه پیو کښ او بیړ ورکوی چاله
دغه غله دی مشران د سود خورو
په مظلوم ظلم د خپل اولاده خیجی
دیره کته شی تاوان د سود خورو
د سمیلاو علی حیدر به رښتیا وائی
که دشمن شی په جهان د سود خورو

و

که د اعشق نوے پیدا حبیب به نه وو
هر انسان به وو جُد ترییب به نه وو
د عاشقو مثال خدایه د رنځور دے
که رنځور جوړ پیدے صفت طبیب به نه وو

و

دا خومره بهادران او مشران د پُښتنو
خوشحال که علیخان اوکه رحمٰن د پښتنو
شاعر مثال د باز دے توم ځانګونه د شاعری
بے پروبه بر نشی شاعران د پښتنو
پرخه دی یو نظر دے په غربت د شاعرانو
ورکیږی دا غربت په یو ایمان د پښتنو
ایمان څه دے اقرار دے ورسره تصدیق د ژبے
دا دواړه مرکب کړه جوړ کړه توان د پښتنو
توان څه دے اتفاق یو اواز یو قدم
روان په د غه لارے دے کاروان د پُښتنو

کاروان خہ دے اشنا دغہ رنړا د قافلے دہ
پچې لہ دے رنړا نہ شہ قربان د پښتنو

قربان خہ تہ ویلے شی د مینے یو دنیا تہ
د مینے پہ دنیا مری عاشقان د پښتنو

خود دار شہ طمع مرہ کہ داخلہ تورہ دخالد
جوندون اوکتہ نرشہ پہ میدان د پښتنو

شاعر علی حیدر خہ دے دیوہ درونہ پکور کئ
کہ سوزی جوړ وی پورتہ آسمان د پښتنو

و

زما سوال زاری منت بہ وی ترخو
ستا غرور مستی طاقت بہ وی ترخو

زما غم آهو فریاد افسوزونہ
ستا خند اعیش عشرت بہ وی ترخو

سرو مال بہ پرے نثار کړم وایہ وایہ
ستا د سینے خولے قیمت بہ وی ترخو

د څوانئے پہ خوبو یو ورځے پوئے نشوم
زما د اکراو قسمت بہ وی ترخو

زړه زمایه ستاپه روغو کتو روغ شي
ستا کتل دومره هیبت به وي ترڅو

سوړم سپین شه لاډ اوپه انتظاریم
ستادا نه منل عادت به وي ترڅو

ماجوشي علي حیدر په وصال موړ که
دا هجران او مُصیبت به وي ترڅو

۵

ساقي پرې مړ دوه تن په میخانه
شراب راوړه چه کړم نوش په څه بهانه
بیا قصه درته د خپلو لیدو اوکړم
چه ته په اورېدو شې دیوانه
قصه داده یوه ورځ په لارکښې ناست وم
په نظرم شوه یوه جونه مستانه
ماپتوس د هغې مستې جونې اوکه
ځې به چرته ستاده کومه ټکانه
داسړي چه نجه ته درسره دی
دا دې خپل دی که دی واره بېګانه

دغه جون شوله موسکئ جواب راکه
خوانه واوره دارښتونے زمانه
دغه یوم دے خاوند ځلوډېم رونړه
داځلوډېم غلامان دی پرانه
موبڼره واره دَ بوے موره پیدا یو
دیکښ نشته دے پردے شوک نارینه
اُوس به تمړ راکړے جواب چه موبڼ څوک یُو
پرے تالاکړه دَ خپل عقل خزانه
یاجوشی علی حَیدر دَ ځان استاد کړه
چه دِ پوهه کړی اے ناپوهه په معنیٰ

۵

چه دِ کار په دُنیا یاد وی غفورنه
ځواندا ادے بے عقلی ده شعورنه
په مستئ پسے نیستی راځی هوښیارشه
عاجزی په جوند اختیار که غرورنه
دَ شیطان غونده به تورمخ هلته کړے
چه بنګ بوټے دلته نهال کړے انګورنه

دَ جنت په طمعه مشه کړه دِ خیال وی
چه مور پلار درنه ناراض وی معمور نه

ځان کړه خاورے که مانړے دَ جنت غوارے
تکبر به دے فرعون کړی منصور نه

چه له ځانه په کمزوری خفه نشوے
زندګی دِ کړه بے نوره په نور نه

نازېږے مکره دَ سمیلا علی حیدره
بیګانه به دِ پکار شی تربور نه

۵

تلک آشنا نه دَ زړهٔ سرمهٔ ورکوه
په بدل د کوتو زر مهٔ ورکوه

چه دماغ ئے دَ فرعون زړهٔ دَ قارون وی
کنډ کچکول دَ قلندر مه ورکوه

هغه چا ته نصیحت کوه چه سیال وی
خرله زیرے دا ختر مه ورکوه

په خپل لاس کښے نیمه تکړه بس ده
خپل عزت دَ بل په در مه ورکوه

ځوانی لوښے دکلال نه دے چه جوړ شی
په غفلت ساعت یو هنر مه ورکوه
که دانائے په بدل دَ جواهرو
بیو دَ عشق تصوّر مه ورکوه
شاعری ده لوئے هُنر علیؔ حیدره
بے وقوف له نېل هُنر مه ورکوه

دخط جواب

۱ وختونه پخوانی راته یادیږی کله کله
خیالونه لیونی راته یادیږی کله کله
۲ ویځ ځان به دِ اُوده که قصدنی نړپا سیدلے
نعرے دَ پیشمنی راته یادیږی کله کله
۳ موسکا دِ انګو کښ سره جوړول به
خانے هغه ځوانی راته یادیږی کله کله
۴ زما د یاره خاص دِ په رقیب تو کانړے توکړل
ستا هغه قربانی راته یادیږی کله کله
۵ نن چا او لمسولے چه دِ زړهٔ زمانه مور شو
حالات دِ پرونی راته یادیږی کله کله

۶ وچولے بد دے اوښکے په ګول ګول زما دسترګو
اخلاق دِ انسانی راته یادیږی کله کله

۷ اوس بیا علی حیدر ته په زړو سترګو وګوره
ګیلے دارمانی راته یادیږی کله کله

۵

دا الله رسول یریږے که لا نه
لاس په نام ورته اودریږے که لا نه

واٸی ځانے دَ خلاصی دا دے مسلمانه
په معنیٰ د بانګ پوهیږے که لا نه

چه بے خیره بے زکاته مال دَ خدائے خورے
دَ عذاب نه ئے خبریږے که لا نه

کبیره سپینه غابښ وتلی وارد تیرشو
په دے بد عمل شرمیږے که لا نه

دحرص په مدرسه کښ دِ ووت باټیله
تورلحد ته به کوزیږے که لا نه

بل ته وائے پاسه ته علی حیدره
دَ غفلت په خوب مړیږے که لا نه

۸

غم بنده لره پیدا دے بنده غم له
زړګے عشق له پیدا دے سترګے نم له

تعجب او حیرانی ده هغه چا ته
چه په چُف رسوی ځان نبی اکرم له

که صادق ئے نیک عمل د ځان رهبر کړه
بے رهبره تلل مشکل دی غنچه فم له

لکه دال غونده چه کوږ شی بیا به څه کړے
دشوارئی و اړے ږ ور کړے عقل کم له

نیک نصیب دِ شه طبیب علی حمید ره
اسره نشته بے له خدایه بنیادم له

۹

سترګے لږ وارﻩ وه خانے زما د سترګو نه
مه چیرﻩ زخمو نړم زیاتیږی لا د سترګو نه

سترګو چه و بیټلی دی نو تلی دی بیا نه راځی
کوټی په صحرا ځنګلو ورک د چا د سترګو نه

کوکه رانه مکره دا جاے که یم لهدے وینے

داسیلاب دا وښکو پرے راځی بیا بیاد سترګونه

لږ خو راتږدے شه سړی خو رنږیم چه خو رسږدے

مینه چه جو ړیږی یا زیاتیږی داد سترګونه

دغه بو دیوالے د دا ړومنځ کښ رقیب شوے دے

لوکړه دا دیوال چه او ښورم ښه سزا دسترګونه

بد خو د رتر نه وایم چه غابښ دِ راته اُو چیچی

پرے دوه جوندی اُوخیه مړه رضا دسترګونه

زړه علی حیدرہ که ستاو ړے د بل چاندے

او غواړه چه درنے کړی دښیل آشنا دسترګونه

۵

چه کم اصل دوست کوے بیا چاړے ځله

بے مطلبه کُونه باغ کښ غواړے ځله

نوے یار دَ زوړ اشنا برابر ندے

یاز دَ عمر بد لوے په خواړے ځله

سړے او تله اول هلځے دوست کړه

نا اعتباره سړځے په شاړه ځله

چه دِ صفر نتیجه دَ نیکئ ښیجی

دَ هغې ځوان په ځائې مټه نغارے ښله

دُدُ ونډ به نشئ سپک بشئ علی حیدره

نه په سر دَ بیغیرت ولاړے ښله

۵

څوک تر عمره دَ عیشی رسیږی نه

خود به او مری د مرګی خلاصیږی نه

دا دنیا ده په مثال دَ سرائے آباده

تله را تله دی پکښ څوک او سیږی نه

ما نرے ښله جوړوے آخر په کوچ کړے

دومره بس ده چه پتا خسیږی نه

د پرده اولیدل په دے سترګو نا شول

ستا عمل په خوب اُوده پا سیږی نه

دَ حرص په پولو هغسے رفتار کړے

بے له مرګه دا رفتار غوځیږی نه

بادشاهان به دَ جنت تهیکداران وو

شکر دا چه په دولت خرڅیږی نه

نیکی عمل یوسه توښه علیؔ حیدره
عزرائیل په گنهگار ترسیږی نه

۵

په قدم د حرامی مکده قدم ته
بے ستمه په چا مکوه ستم ته
دوښمنئ د دښمنانو سره ښائی
مرور د خانه نکړے روغ عالم ته
زور ور مثال د مار او د لړم دے
بے هنره نیوے نشے مار لړم ته
غټو خیټو کښ یوه نیمه دانه وی
واړه مه بوله په سیرد بنیادم ته
د ماما که لوئے آواز کړی منږه ړوی
بے کینے د ړ مامے مه گنړه کم ته
سخاوت د جوار گور په میدان گوره
چه بائیلی اعتبار مکړه په قسم ته
په روزگار کړه معلوم علیؔ حیدره
دزړه غوښے چا ته مه سپاره یوم ته

۵

ولے به تکرم دَ رقیبه سره شر په بشر
څکه چه شر کړی دَ بشر نه کیے دریمه برخه

عاشق که نوشه خود نو سره هُنر دے پکار
څکه چه نو کړی دَ هنر نه کیے دریمه برخه

د چا پسوز ما سر درنه قوربان شه قربان
څکه چه سر کړی دَ پسر نه کیے دریمه برخه

بر به شم هله که خیر شو مه دا ستا په راتلو
څکه چه بر کړی دَ خیر نه کیے دریمه برخه

دا مخ دِ نمر په وردِ زلفو را نه پټ که وے
څکه چه ور کړی هم دَ نمر نه کیے دریمه برخه

که څو مره زر اخلے نو و ا خله سپک نظر مکوه
څکه چه زر کړی دَ نظر نه کیے دریمه برخه

دا ستا پِدر ته نسی در علی حَیدر اُو کتی
څکه چه در کړی دَ پدر نه کیے دریمه برخه

۵

نیمه شپه ده زړهٔ م وارینکړی تخرونه
خدایه خبر دے کهٔ م دوه شوندے کړے بیرته

دے غریب خو غریبي غو ختلے نهٔ وه
چه کچکول پلاس ولاړ دے دَ بل درته

کړے مالدار په خیسته موړ نشه او نهٔ شی
بیا غریب ئے په ځوکئ اُودروے سرته

چه تقسیم دِ دا دُنیا کړه په مالدارو
دَ غریبو هغه برخه لاړه چرته

تشه طمع دَ غریب غم ئے خوراک شه
خوشحالئ دے تهولے ورکړے معتبرته

دَ مالدار خوشل ارمانه وو پوره شو
غریب هسے طمع کړې حوضِ کوثرته

په هغے جهان به څه جنت ته لاړ شی
چه په دے جهان دے اولیږه سقرته

چه بربنډا ته مُبارک دَ اختر واڅی
چا شراب ورکړه جُوشی علی حیدرته

ی

خلقِ جفاکنڑی زما په خیال جفا نشی
عشق و رته نه وایم چه د ړه پکښ پیدا نشی

ما د محبت نشانه پاس د رته په زړه ایښے
وله رم آشنا چه نشانه د رنه خطا نشی

خیر دے که هر څو کړے ما په ایښے د رته غاړه
هیڅ هغه جوندون نه دے هجران چه پکښ را نشی

یاد دِ شی کمه چه دِ اول په ځان مئین کړے
اوس دِ جواب راکه چه هیڅ ترس دِ پتا نشی

عشق خو پټ نور نه دے چه زړه پرے چپه خوله شمه
داخو یو رنړا ده رنړائی پټه له چا نشی

جوړ کړمه تصویر په تصور کښ مصور شمه
سوال د خدا یه دا کړم چه هم دا شیبه د صبا نشی

دغه یو دِ لبر دِ په قسمت کښ رسید لے دے
څه علی حیدره ستا دِ بل آشنا اشنا نشی

ی

نه کوړے شونډے یم دواړه چوړے دی
پړے دَ اوردا غونډ تاا ینخودے دی

لکه بوټے دَ خوړے زمکے اوچ یم
دَ ژوندون جرړے یم تا کنودے دی

که رښتیا وایم آشنا اوس به خفه شے
دَیاړئ دِے منځ کښ څه پرېخودے دی

دا خوزه یم چه لړدے دپاسه وایم
چه دا مستے سترګے ما منودے دی

دَ جوشی په غم غمجن به هغه څوک وی
چا چه پټے دمورپه حقه رودے دی

ی

که په عشق کښ یم مخ توروی تورډِ وی
دردا وغم که پکښ زوروی زورډِے وی

پتنګ چرے جارو تل دَ شمع نکړی
که ئے بل په وجود اُوروی اُورډِے وی

داسے مۀ وایه چه ما نه بۀ توبه کړی
که د ظلم دے لا نور وی نور دے وی

ګمان ئې نۀ دے زما او ستا په منځ کښ
خیر دے هره ورځ که شور وی شور دے وی

ماجوشی علی حیدر دے قبول کړے
ستا د لاسه که یم ګور وی ګور دے وی

ی

عمل پے اوکه

چه د سلو تنو یار وی ورک دے شی
که ټی ګل غونډه رخسار وی ورک دے شی

د مطلب آشنا خو یو سړی لۀ بس دے
بے مطلبه که هزار وی ورک دے شی

چه تسبیح دی ټکټی لۀ جوړے کړے
چه د رغله پرهیزګار وی ورک دے شی

چه په غم او په پیشادی دے پکار نۀ شی
که د وچے برخوردار وی ورک دے شی

چه عزت د بے غیرتئ په ځائ کښ پریږدی
جوار ګور که د چا پلار وی ورک دے شی

چه لوږخورے وی دولت نه کینوے
که د ټول وطن سالاروی ورک دے شی

چه سخت ید دولو منځ ته ورګډ اد کړی
که ئے بریت په غوګو باروی ورک دے شی

چه عزت دیو میلمه ورسره نه وی
ځوان په نسجه که ناچاروی ورک دے شی

مشوتهول عمر کارونه تعمیری کړی
چه ممبر د قوم غداروی ورک دے شی

عزت بنه دے په دنیا علی حیدره
بے عزته که مالداروی ورک دے شی

ی

په حال د زمانے م په ژوندون جرلی دی
د مرګ نیته م نن وه ماپرون جرلی دی

دولت د بے عزتے مه غواړه مرګ د عزت بنه دے
خه او شو په دولت پسے قارون جرلی دی

دولت د لاسو خیرے دے نن وی صبا به نه وی
غیرت او محبت پسے پښتون جرلی دی

میوے د محبّت دی د اقبال د ونے سر کښ
همیش بے اتفاقه اندرون حجرلی دی
هر کوز علی حیدرؒ صداقت نه حد اکیږی
دروغ نه دی لیلی پسے مجنون جرلی دی

ی

نه م خوب نه م خندا نه م آرام شی
د بے قامه یار به کله رانه رام شی
په رو روم د زره غوښے اور نه نیسی
اخوا وچا رم چه صبر م تمام شی
د دیدن په طمع ناست یم د یار در کښ
اوچے شونډے ترے نه څمه په ما بنام شی
بے کینے زړه په کالبوت د ننه مشه
سرے دو رو شر موی آخر بد نام شی
له دے هسے د یر کړاوه په مرګ خوښ یم
چه م خلاص د درد و غمه هر اندام شی
سمندر به او کړی څه علی حیدرؒ
چه بیړۍ ورته د نوح علیه السلام شی

ی "حدیث شریف"

مشرکان د کوډ کار به په اور سوزی
تر اَبد خوار و زار به په اور سوزی
دویم دا چه وی منکر د پنج بنائه
نه خلاصیږی یو ګذار به په اور سوزی
دریم دا چه جوارګر او غل قاتل وی
شرابی او زناکار به په اور سوزی
څلورم چه په مظلوم باندے ستم کړی
بے انصافه دوکاندار به په اور سوزی
پنځم دا چه جنګړی دوه تنه کور کښے
دا بدبخته چغل مار به په اور سوزی
اووم دا چه کوری فال په نجومی څوک
کړی رسمونه د کفار به په اور سوزی
اتم دا ده چه څوک تیر نه سجده کړی
دا د مړو طلبګار به په اور سوزی
نهم دا چه څوک د مور او د پلار ناوری
په ګناه د مور او پلار به په اور سوزی

لسم دا چه دروغجن او یا سودخور دی
دغه دواړه شرمسار به په اور سوزی

لس پوره شو ورپسې یولسم دے
ناجائزه طرف دار به په اور سوزی

دولسم چه وی بد نیته بے حیا شوک
دا قابل د سوؤ انکار به په اور سوزی

دیارلسم چه نور د نیکے پیشن جوړ کړی
دا دشمن د خپل وقار به په اور سوزی

څوارلسم چه په لوړ خور دولت اثره کړی
دا د لونړ و شوکید ار به په اور سوزی

پنځلسم چه فخر کړی په خپلو بد و
په دا جرم گرفتار به په اور سوزی

شپاړسم به یاد سنجی او بل غازی کړم
دریم عالم دے ریاکار به په اور سوزی

اولسم م واوره دا صحیح حدیث دے
گوره ته تلے قوصندار به په اور سوزی

اتلسم توبه اېستل دی کم چا و بیسته
نه منم چه دغه یار به په اور سوزی

نو لسم بیا په توبه عمل کول دی

دَ دروغو توبه گار به په اُور سوزی

بشلم دا خبره هم علی حیدر کړی

دَ قارون غونده مالدار به په اُور سوزی

O

چه وَهلے ټوک دَ مور پلار آزار دی

همیشه به په دُنیا کښ خوار و زار دی

په دارو دَ طبیبانو به روغ نشی

چه دَ نیت په مخ مرتبه بیماری

بے نقصان چه په نیت اوکړی

دَ هغهٔ دَ خوشحالئ عُمر په دا دی

جیلخانه خوتر‌ے په سل برخے غورځیده

کور په دوو بنو دا سے سور انگار وی

په زړه بیاسته لوتکی مه تره شیلیږی

نوے نوے وادهٔ خوند کړی چه گلنار وی

پوے په رنگ دَ زمانے علی حیدر دے

جوړ صحیح به و ر پورے دده اشعار وی

ی

هر اُمید م په جفا دَ جانان سُوَزی
چه دا زړه یم که دا ټول عاشقان سُوزی
نه دَ ستر کو م وُچ بوټي زرغونه کړه
اوښکو باندے پورته آسمان سُوَزی
وایم نن به م دلبر په ټپوس راشی
دا انسان زړهٔ خوضرور په انسان سُوزی
دَ وصال په طمع عُمر دے تیریږی
دَ زړهٔ غوښے م په اُور دَ هجران سُوَزی
په احسان خوبه قابل انسان پوهیږی
ناقابله سره کړے احسان سُوَزی
تصویر پټ کړه دا آشنا علی حیدر ره
درنګ ساعت له دِ قلم او دیوان سُوزی

بد نیتی چه په کوم کلی کښ پیدا شی
په هغے کلی کښ دوه اختره راشی
دغه نښے دَ قیامت دی نور څه نهٔ دی
خلق وارہ به په غم کښ مُبتلا شی

بابا ګان به څوکیدار د بوسارو شي
ورک د خلقو به یقین په پاک مولا شي
حاکمان به د مظلوم په غوښو پائي
په رشوت به حق سره لیکلے بنا شي
قصابان به خرڅوي د قوم سرونه
مشران به د قوم داسے راه نما شي
په دو لئ کښ به قرآن د الله پروت وي
احترام به ئے په دول او په سُرنا شي
چه څوک دومره شي ظالم علي حیدره
رحمت کله د بد نیتو په صبا شي

ی

چه صادق شي هغه مِینه د یار موي
که غلام وي تاج په سر د وقار موي
نیک اخلاق ئے که په جیل دننه پروت وي
جیل ئے مړ ګنړه په جیل کښ اختیار موي
کوم یو مشر چه حرص ابو داؤد کړي
ترقي په قوم کښ کله غدار موي

د سمیلا علی حیدر ته د بدسنهٔ وه
ستا په شعر به سوختهٔ زړهٔ قرار موی

مے

سپکیږی هغه څوک چه کړی نفرت د پښتو نه
پښتون به همیشه کوی خدمت د خپلے ژبے

پښتو چه هم توره ده هم ډال هم قلا ده
نښان په دے قلا سا تره اوچت د خپلے ژبے

پښتو چه وائی څوک هغه لیکل هم په پښتو که
بیا ورو ستو پسے هله کړی صفت د خپلے ژبے

جوندی یو خو نور قوم را ته د مړو په سترګو ګوری
دا ځکه چه مونږ نه کوؤ عزت د خپلے ژبے

اردو که انګریزی ده که څوک نورے ژبے وائی
قسم دے چه کړی فخر په شهرت د خپلے ژبے

بس غه یو شاعر دے چه پښتو او پښتون دواړه
اوده بیدار وی تل په طاقت د خپلے ژبے

په شان د نور قوم علی حیدر که د اقوم شی
پښتو به شی لیکل په عدالت د خپلے ژبے

ے

قُلبه دے لاس اوخپے عمُر پتے نۀ زمیندارئے
چه څه یکښې کرے هغه به ریبے خود مختیارئے

دولت به دے ملکرے که ډیروی ترینا زے شی
بیا حق دَ وارثو وُشه نۀ څه پخپله لارے

خپلوان به دے ترقبره پورے پاس په اوګو یوسی
پس ذغه محبت وو لاره تیر شه که هوښیارے

اوس پاتے شۀ عمل دا به دے مل شی تر آبده
که ښه وی مبارک شه ډوب به شے که ګنهګارے

خیرے مطلبی یم درننه واره مخامخ کرے
عیرت به تریئه اخلے اے بنده که نصیب دارے

روان دے دَ جوشی تخیّل کوری مثالونه
اُوباسی دَ دریاب نه ملغلرے مزیدارے

ے

بے له عِشقه څه جوند ون په دُنیا د ے

ناروا ده یو مذهب کښ روانه د ے

که حارص لټے څیړے د ټول جهان تاوکړے

ښتا پخه کړه کفن د ے سیوانه د ے

که پسر د خزانو د کور آباد شی

سکونت دے پکښ نن دے صبا نه دے

ډیر دے اولیدل چه راغله بیا پیناشو

ستا په زړه کښ لا څه غم د بقانه دے

نیک عمل کړه چه جوندے شے پس د مرګه

جوندے شوے بد عمل په جړانه دے

داسے مال دے اوخوری سر علی حیدره

چه قابل د تور لحد د زنرانه دے

بهتر ینه وسله صبر دا ساتم

دا حدیث د محمد آخرزمان دے

په خیرات کښ چه ریا زیاده راشی

نا قبوله په درګاه د پاک منان دے

چه پیسه دے ځان له ربّ سو تے مذهب که

خدائے په داسے بنده کله مهربان دے

بد اخلاق یه دے تمام عمر جوندے وی

د بد خویه بنده لږ عمر دوران دے

یو منت صبر چه اوکړے خیر به راوړے

بے صبری کښ یا موت یا زندان دے

چه صباله بیا په سر وستر کو جر یږے

نن دے تیر کړه کوټ د زهرو کړ خفکان دے

دیر عالم په شاباسی علی حیدره

دیر وپه جلیخانه کښ بندیوان دے

*

ی ے

ماجستک ۱۰۰۰لم دواړه ستا علامه

چه کوم هغه پر دیچه ۱۰ مثل دے

په مرات کښې خوشبوئی د عطرو نشته

حاصل کړه چاد بنګ بوټی نه پهل دے

یا مکر ده د شیطان یاد خدائے شه

ځیځه په دوو ډیرو مکدو سخت منزل دے

مرګ ځق دے په هیڅ رنګ نه پاتے کیږی

بیا په نره وے ته مرے چه اجل دے

شیطان هم ډیرو اشنائی چا سره نکړی

ځکه ن پوره د خدائے بنده ته چل دے

خدائے به ستاشی اے بنده که ته د خدائے شے

ځیدانی خو ته دا منځه لوئے خلل دے

وائی دا علی حید رچه خپل م نکړے

نفس ځیے د بانده کدم په رب توکل دے

ی ے

صدیق عروج دځان په صداقت موندلے دے
فاروق عمر په عدل خلافت موندلے دے

قارون که د ترۀ ځوئے د موسیٰ علیه السّلام وو
فقط په بخیلتوب ئے لعنت موندلے دے

خیرات په جوندانه ورکوه چه مخکښې دے رنړا شی
عثمان ایمان کامل په سخاوت موندلے دے

عزت په دوجهانه که څوک غواړی هسے نشته
علی د خدائے په لار کښې دا عزت موندلے دے

حسد د زړۀ نه لو کوه هسے نه ابی لهب شے
بلال د یار وصال په ډیر خدمت موندلے دے

لاهو په تکبر سره فرعون په رود نیل شه
رسول په عاجزئ مقام اوچت موندلے دے

سامان او ترۀ پاسه اشنا ساه لهٔ ایساده
غافل بغیر د غمه کوم راحت موندلے دے

هر څوک چه ځې لۀ ځی علی حید ره زړۀ دې صفا کړی
په تش ټیکی را ورلو چا جنت موندلے دے

ے

پہ خوانئی کښې چہ خپل نفس وجلے نشے
پہ پیرئے کښې ترے بیا ځان کتلے نشے

چہ بُتان دَ سینما پہ خورو بورے
دَ جنت حورے صبا لید لے نشے

دا تقدیر دے هغہ فضل چہ اُوچیږی
چہ تدبیرئے دَ اُوبو کولے نشے

زکوٰت کوہ زاهدہ تسبیح لرکړه
پہ ریا ثمر دَ جیم خوړلے نشے

خبردار پہ زړو نوستا زماؔ رازق دے
خپل عمل ترے پر هیڅ رنګ پټولے نشے

اے مُلا کہ تہ پو هیږے نہ پو هیږے
چہ سره دَ علمہ حق وئیلے نشے

ی ے

زاړهٔ پښتانهٔ خاورے شو عالم شه نوے نوے
یو دور کوی په زور باندے ستم شه نوے نوے

یو غم وی په بنده ناصافه بل ورباندے راشی
آواز د خوشحالئ نهٔ راځی غم شه نوے نوے

پخپله دے وعده باندے تصدیق او عمل نشته
حارصه په یو طمع دِ قلم شه نوے نوے

پخوا خو یو بیلا وه چه د قیس د سترگو تور وه
نن ترخ کښی د هر چا گوره صنم شه نوے نوے

په خولے د دلالانو د حرام رزق د پاره
دروغ دی طلاقونه دی قسم شه نوے نوے

جوشی علی سید ره چه عمل خومره خراب شی
تیار په مناسب هم ورله بم شه نوے نوے

ے

چه حکوم دَ خپل زنان ټے ځوان په څه بے
چه شوے خوښ په غلامے انسان په څه ئے

لفظ خان دَ درستر خواند دے و تہ بے
چه دَ بل پیالئ ته کورے خان په څه ئے

چه دوه تند دے قائل په تعریف نشی
بیا په نوموشوند و پروت پیزوان په څه ئے

دیره اوکته بنړیا شه څوک دِ څه کړی
خپه خیر ورنکړے دَ قوم نشان په څه ئے

دَ پښتون مثال په مثل دَ سندان دے
چه په منځ دَ تسه څوے سندان په څه ئے

دَ بنده نشے بنده علی حیدره
ته چه دا هنرلرے خیران په څه ئے

ے

اعتبار مکړه په هیچا خطا بشے
تهٔ بهٔ ئے ځان اشنا کړے نا آشنا بشے

لکه ړوند شله په زور دَ عصا ګرځے
دَ زړهٔ سترګے کړه بنا تباه به شے

حال دَ زړهٔ مه وایه هیچرے خپل یار ته
دغه یار به یار لری رسوا به شے

عاشقۍ کښې پټه مینه کامیابي ده
دَ محفل دَ لیونو رنړا به شے

چندخ مشه چه شکال تر دِوی سترګے
ځان قابل کړه دَ هر ګل بورا به شے

دَ هنر په زور هرم نیستۍ له ور کړه
اے جوشی دَ چا محتاج عصا بشے

مینه او خوب

شپه وه خوب کښې مې لیدلې غونده وې
د ځوانۍ په جوش راغلې غونده وې

ما چې تا ته پورته اوکتل حیران شوم
ته ولاړه دم ختلې غونده وې

بیا مې داپو ښتنه اوکړه چې ته څوک یې
په دې ټکي کوریدلې غونده وې

تا وې زړونه په کالبوت د ننه کوم
داد ې او وې بیا خفه غلې غونده وې

زما زړه دې هم د خپل حسن غلام کړه
شپه وه خوښې مې موندلې غونده وې

که خیر وې چې ته څې بیا نه جاروزې
ما به داسترګې تړلې غونده وې

بیل ته مه وایه جوشي علي حیدر زه
ته هم دې سترګو وېښتلې غونده وې

ے

پہ دُنیا کښې خو یا کفر یا اسلام دے

د وه پار تښې دی دا نور ھسې دھوم دھام دے

د اسلام معنیٰ دَ خدائے تابعداری ده

څوک انکار ترینه کوی څوک غلام دے

دا قرآن خو صرف لار ښائی رېندو ته

اے صیاده تا جوړ کړے ترینه دام دے

نه پوهیږم چه دَ ښخې په مذهب شوے

نور څه نه غواړے تش او خوروکښې دِ نام دے

خپل مطلب له دَ آیات معنیٰ اُلټه کړے

دا ئې وا وری رُونړو دا د خدائے کلام دے

دا بدعت به دِے خپل حرص کښې لاهو کړی

شفاعت د پاک نبی په تا حرام دے

زه حُجُوتی علی یم رخو به حق وایم

دا چه نه منی جاهل تر م سلام دے

ے

ناصحه نادرئ عاشقان بے دَآشنا خبرے
ما ته عبث مکوه خوشے د بل چا خبرے

ما ته هر کاره د دنیا خوشے بازار شکاری
خوشی بازار سره م نشی د سودا خبرے

دنیا هډ نه ده چه د عشق جوار کووی پکښ
بیلات به او نکړی هیچرے مکوه دا خبرے

که څوک نیکی کړی دا به وائی چه جنت اوګټه
ما ته جنت او حورے دو ... دی دا شا خبرے

که راته خاندے د بنړو لاندے پټ خانده
هسے نه غلط شو بیا هم کیږی شا پشا خبرے

یوازے ناست علی حید رحیرته په غرونو کښ وے
رباب د عشق ورته کوے د لیلا خبرے

ختم

مے

شوق مې شته دے ولے جيب کښ مې پيسه نشته دے
پيغلو شراب او څکل زما په کښ حصه نشته دے

نزدے مې نه پريګدی ساقی زه څو هم زړه لرمه
بهر مې او شړے چه څه دلته کاسه نشته دے

کعبه که پريوزی نو خير بيا به ئے جوړه کړی څوک
زړه که مې مات شه د پيوندے هيڅ قصّه نشته دے

ويښتلے ستړکوئے زړه اوس په طبيبانو کړ زه
دغه سے بنده ئے چه په خدائے د بهروسه نشته دے

ستړکو مې نه کتل خو زړه ستا د لسون په وجه
په جيل بندی ئے د خلاصی د يو کوشه نشته دے

وائی جوشی زما د عمره سره سم نصيبه
که لاهو کيږے ولے نفرت د غصه نشته دے

ے

زمانه شوه د غافلو غفور بنه دے
د راندہ سره ملګرے ضرور بنه دے

هر سری له داپکار دی چه عالم شی
د بے علمه نه تالاب کښ فرغور بنه دے

که طاقتِ د د عمرؓ علیؓ بیا لاشی
د دوستئ په باب کښ ځا نته قصور بنه دے

که په پانور ټک عکیر د دلبر غوارے
نه منصور شه په معنی کښ منصور بنه دے

مطلب واخله د بیټ کیټ د دشمنئ نه
د شیطانه سره دغه دستور بنه دے

کوم یو خیر دے پکښ ستا علی حیدره
د ناکامه هسے واټی ترېور بنه دے

✱

مے

غریب جرېږي په سرو سترګو مالدار لا خفه دے
ګلونه مراوي په خزان شو مالیار لا خفه دے

خاورے پسرلے کښې کوي چرے خوشحاله نشو
ورځ او په شپه تکړے خوري زمیندار لا خفه دے

ځوئے د پلار ځکه منډے لو ر د مور یدیشي
که څوک تپوس ئے د اولاد کوي پلار لا خفه دے

فتنے هم جوړے شولے په خاص ولا تشترو ا
په مصله ناست د جنت تهیکدار لا خفه دے

اوس که برېږي څود روند بار وینی ښادیاسه
سا روان ئے او پوښته زړهٔ سترے بیمار لا خفه دے

مالک یقین د څوکۍ نوکري په غلام ډېر دے
که څوک ئے پټ پټ لټوي څوکیدار لا خفه دے

غمګین که ژاړي ځکه ژاړي چه غمونه وینی
ولے بنادی والا په ټنګ د ستار لا خفه دے

صداقت نشته په دنیا هسے ټکی تورے ده

عاشق معشوق دواړه په ترس دي بيبار لاخفه دے

د چاچه مرګ په خيال کښ نه راځي يا خوف د ربه

اور د دوزخ ورته په نورا انتظار لاخفه دے

خوشحاله څوک دي زمانے يو خورا ا وخيه تة

سوداګر څه چه ورسره دکاندار لاخفه دے

په داسے وخت کښ دے پيدا علي حيدر کړي ربه

چه په رښتيا وے بدنيته غدار لاخفه دے

صرف دوه تنه خوشحاله دي - يو معصوم ، بل غټ بے غيرته دے - نور هر څوک خفه دي -

ے

عِشق نه دے چه شراب نه وی پکښے
دیار ناسته چنګ رباب نه وی پکښے

شراب چا دی منع کړی چه د مسکه
اوسکه اوسکه هیڅ عذاب نه وی پکښے

ډیر عالم خیر ډ بُت له خونده نه شو
هغه کار کړی چه ثواب نه وی پکښے

زاهدان نعرے وهی چه راشه راشه
مسجد څه کړم چه محراب نه وی پکښے

کلمه د رسول نه وایم کافر یم
چه احق وایم هیڅ جواب نه وی پکښے

زهٔ پتنګ د هغے بُت په مینه نه یم
نشانے چه د ګلاب نه وی پکښے

ورک دے شی هغه ژوندون علی حیدره
چه په مخ اوښکے سیلاب نه وی پکښے

ی

هیڅ کله به غم په محبوب زما ند کم نشی
څو چه ده بوسه زما د سوی زړه مرهم نشی

نه کیږی علاج د سوی زړه په طبیبا نو ئیم
دا د هجر تاؤ به چرے بے وصاله سم نشی

ما خو په دنیا د خوشحالئ کودر معلوم نه کړه
چا ته ورښکاره دِ زما پشانته غم نشی

یارم ناچاری ده یا د اعشق ناروا دے جور
ځکه تو ے په غم م د هیچا دستر کو نم نشی

سل قسمه اوخورم چه توبه م ستاد مینے شه
ما ته نشی تو به تو به یقین م په قسم نشی

یا علی حیدره تر هغے به ویر کوے د ځان
څو چه پتا یا نه د الله فضل کرم نشی

ے

ډیر غربت جور فکرونه د شاعر دغه دولت دے
پېټ په زړه لوی داغونه د شاعر دغه دولت دے

د عالمو جدا ناستی په یو بېل جهان کښ خلق
کله اُف کله آهونه د شاعر دغه دولت دے

کله اوچتی آسمان ته د سپوږمئ په څواکین کیږی؟
کوټی کوری قدرتونه د شاعر دغه دولت دے

کله دے پخپله ګل شی کله شی بلبل د دشت
ویرېا غواړی دیدنونه د شاعر دغه دولت دے

کله لاړ شی مقبرے ته د جوند و عالمو سترے
کوی مړو ته آوازونه د شاعر دغه دولت دے

څوک د تخت ته راګذار کړی چا ته وائی په تخت کېنه
په محمود زنګروی خونه د شاعر دغه دولت دے

دده جیبه ذوالفقار دے د علیؓ په قدم درومی
غواړی هر وخت جهادونه د شاعر دغه دولت دے

که پخپله نهرګټی پیسه نه لری په جیب کښ
وربښی بل ته لعلونه د شاعر دغه دولت دے

دا لعلونه وایه څه دی دا دده د خولے اشعار دی!
یو څلئ کېږی پرے دوه زړونه د شاعر د غه دولت دے
تاله څه علی حیدره یو تصویر د آشنا بس دے
په هفته کښې شل خطونه د شاعر د غه دولت دے

که تهکی م چرے نه لید ے دلبر کښے
ما به ځان در ته لوکے که په مجمر کښے
تش سلام او هر کلے به د چا څه کړے
چه نه غم کښې پکار ییږی نه اختر کښے
سپے غوریږ کنړمه د یر د هغے خلقو
چه حرص ئے کینوی دیل په در کښے
په کتاب د سخاوت کښې م لید لی
فرق نشته په بخیل سړی او خر کښے
که رسئ دا تفاق تړے په زور تاؤ کړم
مینه نشته د بازیانو په ټبر کښے
اتفاق چه وی د چا علی حیدره
د هغوئ جنډه روانه وی پسر کښے

توحید

جوړکه دا خلا قوړوند ځان لهٔ سرور پښان
ښته نه به وی چرته رنګ م دِ دلبر پښا ن

نښته دے یا ور پهٔ ړوند! مرګ اُو وینه راشه
دا ځوانی بهٔ تل نه وی تینګ په پنج بنا شه

پاتے بهٔ هیڅوک نشی دروند که وی د غرپښان
جوړکه دا خلا قوړوند ځان له د سرور پښان

پاتے بهٔ هیڅوک نشی دا دنیا فانی وینم
ستا پښا نته ډیر عالم تلے ارمانی وینم

ظلم په چا مکوه خوئی کړهٔ د عمر پښان
جوړکه دا خلا قوړوند ځان لهٔ سرور پښان

ظلم په چا مکوه تیغ دا براهیم شه
پاتے اسمٰعیل غونده زیرے د نعیم شه

مکره په بے روحه بت میښه دا آذر پښان
جوړکه دا خلا قوړوند ځان لهٔ سرور پښان

مکره په بے روحه بت دا اٰوازچه چرته ئے
دا مقام دِ را ورسه څومره چه ته بیرته ئے

شرک ئې اوکړ تېروتې سپک شو د ورپشان
جوړ کړه د اخلاقو ژوند څان له د سرور پشان

هر ځائې کښ حاضر بېړ چغه د بلال رض شه
دين د محمد لره شمع بې مثال شه
او پاسنه تکبير سره تورې د حيدر پشان
جوړ کړه د اخلاقو ژوند څان له د سرور پشان

واخله ايدي ژوندون خاورې دا ژوندون که
عقل خر ا نه خپله غوږ د ټيليفون که
بحث د توحيد مدام کړه علي حيدر پشان
جوړ کړه د اخلاقو ژوند څان له د سرور پشان

قطعات

الف

دَ ړوند په کور کښې شمع بلیدل دی
بے معنیٰ مشغولیدل قرآن سره
په قیامت کښې ئے پاس پوُښتنه نشته
صاف عمل به شی غوښتے میزان سره

ب

پ

ت

کومه وُنه چه یار داره کړی قدُرت
خُوری په کښتو گذارونه هر ساعت
بے میوے وُنه خوک نه وُلی په کښتو
چه پکښې نوی خوبی او لیاقت

دُعا

دَ ستړکو نور دَ پاکستان وطنه
دَ هر ظالم شے په امان وطنه
څوک چه په بد وستا کوکوري تا ته
خوشحال دِ مشه دشمنان وطنه
اختر دِ تل عمر اختروي په تا
نور دِ هم پورته شه نښان وطنه
ستا مخالف خو په تیاره کښے اوسی
تهٔ لکه بدر شوے روښان وطنه
زړه چه ستا په دشمنانو یو ځل
پریوځی تندر دَ آسمان وطنه
دَ کُتهٔ نه اووتے شنګ والے تورے
ایوب خان په یو اعلان وطنه
غلهٔ دی خفه او ساد خوشحاله وینم
وی به نو شو داسے دوران وطنه
سرے اکثر د ناسرو یدی شی
په کانړو ولی قدردان وطنه

پیشنګوئی د جوشي مه هیره وه
یو ځل به ډیرا وکړے ارمان وطنه

قطعه

د ګناه د پاره ځانے جوړ کړه ننا خپل
چه په کوم ځائے کښے د ندوینې مولاخپل
که په زړه کښ د وی داچه خدائے م وینی
جنت او کتهٔ توبه کړه د ګناه خپل

رښتیا

زهٔ چه شو مره مینه وینم په وروکے
دومره مینه را ننه نه بنسکاری سړوکے
هسے نو مرد عشق شته نه خو عشق نشته
اسویلي دی کله کو د کله بارو کے؟
معشوقے چا پسے نه جاړی دروغ دی
عاشق هسے نه تینګیږی په نارو کے
د حسینو د ور لږ دے او که نه دے
داتر کومه به خو رے ماته په غورو کے

بزیوه خوند کوی په مخ خو څوک نے کل کړه
اتفاق نهٔ راځی چرے په کهړوکے

د نیکانو د بدانو کلے نهٔ شی
ارمانونه دی ورتیږی په کهړو کینے

نن که څوک وائی رښتیا علی حیدره
وی صباله به چالان په ہتکړو کے

زما ملګرو

څوک په لاره باندے ځی تپوس د بل که
دغه روند خو د همسا په زور منزل که

عوامی شاعر خو هنر فن نے مولا دے
چه په کومه لاره ځی تلئ بشکل که

حق نه حق وائی هغه چه څوک پوهیږی
لیونی خو بردے سره پیر ګوټ بدل که

په ځوانئ کینے م زمرو سره کشتی کړے
چه پیری شوه وخت په ماپورے خندل که

هسے نه خان آدم خور ته حواله کړے
که عزت غوارے دا خپل حالات بدل که

دا بقاندہ دہ اوکدہ علی حسید ره ؛

کہ د نرا شوہ ساز بہ ساز او غل بہ غل کہ

غزل

دلبر چہ بے وفا شی وفادار بہ کتھو ولی

دا ظلم دے کہ نہ دے چہ خپل یار بہ کتھو ولی

مالدار و مرہ شہ و بنکے د جانان د زړکی سروم

اوس پوھے شہ چہ ناچار دے ناچار بہ کتھو ولی

دا ظلم دے کہ نہ دے چہ ناچار بہ کتھو ولی

اقرار بے د درو غولا نرا وسہ پورہ نہ شو

د بنکلو دا عادت دے چہ اقرار بہ کتھو ولی

دا ظلم دے کہ نہ دے چہ خپل یار بہ کتھو ولی

پلار خو مرہ خوشحالیږی بہ وادہ کښی د خوے خلقہ

چہ لسہ پکے راشی خوے پلار بہ کتھو ولی

دا ظلم دے کہ نہ دے چہ خپل یار بہ کتھو ولی

متین شہ خیر دے پتہ کہ د زړہ حال د جانان او وے

ھم د غہ حال و بیل بہ دے وقار بہ کتھو ولی

دا ظلم دے کہ نہ دے چہ خپل یار بہ کتھو ولی

اغجام دَ عاشق دا دے چه آخو کېښ ليونے شي
په کومه لار چه ځي نو هغه لار په ګټو وُلي
دا ظلم دے که نه دے چه خپل يار په ګټو وُلي
پټ دا ز دِ که ښکاره دعاشقئ علي حيدره
بس دغه خپل ګناه دِ انتظار په ګټو وُلي
دا ظلم دے که نه دے چه خپل يار په ګټو وُلي

●

قطعه

شروع شه بيا دَ هلکانو کسب
هغه دَ لوُط زمانه بيا راغله
دَ پيغلو مينه باندے اور اولګيده
دَ خدائے دَ قهر نه حياء راغله

د مسافر ارمان

مړ کیږم لږ به وادا وکړې جانان مې پاتې کیږي
سلګۍ د زنکدن راځي ارمان مې پاتې کیږي

چاپیره راته څوک دي او دا څه کوي چه ژاړي
هر څه مې ورته پاتې شو نور څه زمانه غواړي
د سترګو مې ځي اوښکې په ګریوان مې پاتې کیږي
سلګۍ د زنکدن راځي ارمان مې پاتې کیږي

اولاد د پاره خلقه محلونه جوړول مې
دا ورځ مې یاده نه وه د پیرۍ هر څه کول مې
ځواني مې لاړه تیره شوه دوران مې پاتې کیږي
سلګۍ د زنکدن راځي ارمان مې پاتې کیږي

اولاد له چه واده اوکړه تریاق ئې بیلول دي
که بیل دې نکړه تهینګ شه لیوني اوښان سائل دي
څه کار به درله کوري دا بیان مې پاتې کیږي
سلګۍ د زنکدن راځي ارمان مې پاتې کیږي

نه غسل نه کفن نه جنازه به د شو شا وي
خاطر د مسافر و خو څوک نکړي که بادشاه وي

عمل به زما مل شی خاندان م پاتے کیږی
سنګئ د ژنګدن راځی ارمان م پاتے کیږی

څه عمر دا نسان دے کله روغ کله رنځور وی
ښادی وی کله غم کله ناپسند دے د تربور وی
سکون م زړه کښ مه ګوره خفګان م پاتے کیږی
سنګئ د ژنګدن راځی ارمان م پاتے کیږی

جوشی علی حیدره مرګ نه مخکښ رب رضا که
بیا خبر دے که اجل د د پردو خپلو ځند اکه
پښتون تر شل کتابه یو دیوان م پاتے کیږی
سنګئ د ژنګدن راځی ارمان م پاتے کیږی

قطعه

غیر ملکی پولیس د غل نه ناخبروی
چه غلا اوشی تپوس ونه کړی او تروی
کرامت د پاکستان د پولیس ګوره !
چه څه کیږی هفته مخکښ ترے خبروی

●

نصیحت

په عېش و بانډے سر دے دُنیا شوے
دا آخر د غمه خو مره بے پرواه شوے

یو کافر چه په حق پوهه شی ایمان راوړی
مسلمانه تۀ نه پوهه شوے نه دا شوے

د دُنیا په اشنا یانو دې ځان خوار که
دا خو اشنا دې یو نشته نا اشنا شوے

د میکپ او د پوډرو به څه عشق وی
مینه خوند کوی ابدی پدے خطا شوے

شل جوړے د نیکټوی خونو رے اخلی
دے رواج ته دوره مګدی که بادشاه شوے

لوئے غرور د دے نه او خیه بل کوم دے
چه د مړو په قبر تیر شوے بے دُعا شوے

مرګ ته مخ که دا زما نصیحت واوره
سر دې سپین شه غاښ دې او تل بوډا شوے

وائی دا علی حیدر شه دې دیر دی
خوشحالی نشته د زړه ځکه بابا شوے

ظلم دے که نه

تپوس نشته سره ګلو نه شي وهلے

د مالیار په زړه دا غونه شي وهلے

عدالت او میله ګاه په یو حساب دي

په رڼا ورځے جیبونه شي وهلے

اس له نه ورځي نزدے چه زور پکښے وي

چیند خانوله نالوته شي وهلے

د غریب په مرګ د هیچا څه کار نشته

د مالدار په مرګ مخونه شي وهلے

دا زکوٰة هم په مالدارو تقسیمیږي

د غریبو ټول حقونه شي وهلے

غریب مړ دے بس وو تیونو کښ ژوندے شي

ټوله شپه شي ورته ورونه شي وهلے

چه حاجت ئے پوره علي حسین ره

په درخواست ئے بیا تپونه شي وهلے

يو سوال

يا رب يو سوال كوم قبول ئې په تلوار كه
روح د عاجزانو داخله پاتې دُنيا دار كه

خدايه عاجزان شو دريد رشو مزدوري كوي
يا د چا دهقان شي يا وړه دكانداري كوي
ډير شو بې وطنه ځائې په ځائې مسافري كوي
يا د چا سيتهانو د بنګلو څوكيداري كوي
دا جهان كه ټوټې ټوټې بل جهان تيار كه
دا د بنو كور د فسادونو نه اُوزګار كه

نوې جهان جوړ كه دې جهان كښې ظلمونه دي
تشه بدنيتي تش دروغ تش غمونه دي
ګټه د غريب ده د زردار وپرې موجونه دي
پاتې د غريب په برخه تش مصيبتونه دي
خدايه دا ټيچې دا انګريزانو تار په تار كه
ياو دله غريب خلق د خوبه را بيدار كه

خان او غریب دواړه د یوے موره پیدا دی
یو بل ته بد نیته دی بدے جدا جدا دی
تیینګ نه دی پیسو ته د یو بل په مرګ رضا دی
قهر پرے نازل شو دهماکے کوی تکیا دی
دا سے بد عمله په کولو دچا مُردار که
پاتے په سرحد کښ یو خو ښکلی ایماندار که

خوب وینمه داچه په وطن کښ به اُوربل شی
جنګ به د سنګانو وی داړه به خپوکے دل شی
لوټ او بے عزتی به وی حالات به تبول بدل شی
هر چا ته به ښکښ افسانے د خپل عمل شی
سم نه ئے بنده د خدائے د قهر انتظار که
دغه خپل عمل به دے په خپله ګنهګار که

هر کسیب کښ غلا ده ملاوټ کوی دهوکه ده
هر څه مسلمان کوی نه روس نه امریکه ده
نشے دی تماشے بد عملئ زمونږ پهځیکه ده
په خوله غواړی اسلام د تورو سپینو معرکه ده

دَ تورمُلا ملکری تش دَ نیتې دا رمدا رکه
مولا ئې دَ ایلم دَ غرۀ بنکته راګذارکه

خیرخواه چه د اسلام وی مُسلمان بندۀ امیرکه
ووتې ورنګرې هغوله چه څوک ځان په پیرکیرکه
واره خدایان به پریکیدے ځان دِیو الله فقیرکه
سرکیدۀ په سجدۀ ورته بدل به دِ تقدیرکه

جوشی علی حیدروانی نا پوهه ځان هوښیارکه
که هار دَ ګلو غواړې خوشامندے دَ ماليارکه

ختم شو

د جوشي علی حيدر چاپ شوي کتابونه

زیب آرټ پبلشرز محله جنګی پیښور ښار